

# د انګریز جاسوس
# مسټر همفر
## خاطرات په اسلامي هیوادونو کې

آریان پښتو کتابتون

Made with Xodo PDF Reader and Editor

# د انگریز جاسوس

مستر همفر

# خاطرات

# د انګرېز جاسوس

## مستر همفر

## خاطرات

پښتو PDF کتابونو لپاره موږ درسره وشارئ !
زموږ ټیلګرام چینل لینک 🌐📚👇
https://t.me/AryanPashtoLibrary
واټساپ نمبر:
00971501455350
زموږ فیسبوک پاڼه 👇
آریان پښتو کتابتون

Made with Xodo PDF Reader and Editor

## سریزه

عثماني امپراطوري د نورو په مقابل کې د مسلمانانو یوه سیاسي او پوځي هډه وه،چې د مسلمانانو برم پرې خوندي و او شمله یې پرې هسکه وه؛خو د اسلام دښمنانو ددې هډې د ځپلو لپاره پروګرامونه جوړ کړل،چې په پایله کې مسلمانان؛لکه یتیمان شول،په نړیوال ډګر کې یې خپل هویت له لاسه ورکړ او په فلسطین کې یې د اسرائیلو په نامه صهیونیستي دولت جوړ کړ،چې ددې دولت په جوړېدو د مسلمانانو پر وړاندې د مسیحیانو او یهودانو عملي یووالي تحقق وموند. ښه نو اوس پوښتنه پیدا کېږي،چې دا چارې یې د چا له لارې وکړې؟د عثماني امپراطورۍ د راپرځېدو پر تاریخ له پوهېدو جوتېږي،چې یو "عربي شیخ " په دې راپرځېدو کې مهمه ونډه درلوده،چې ددې کتاب لوستل به مو د مسئالې په ګوټ ګوټ وپوهوي.

بسم الله الرحمن الرحيم

پښتو PDF کتابونو لپاره موږ درسره وځارئ !
زموږ ټیلګرام چینل لینک 🌐📚👇
https://t.me/AryanPashtoLibrary
واټساپ نمبر:
00971501455350
زموږ فیسبوک پاڼه 👇
آریان پښتو کتابتون

Made with Xodo PDF Reader and Editor

د کتاب مشخصات:
د کتاب نوم: انگرېز جاسوس، مستر همفر- خاطرات
د چاپ کال:۱۳۸۹
د چاپ شمېر: ۳۰۰۰ ټوکه
بیه: ۳۰ افغانۍ

Made with Xodo PDF Reader and Editor

**لومړی یادداښت:**

د بریتانیا ستر دولت له همېشه راهیسي د یوې داسې امپراطورۍ جوړول په لټه کې و،چې د ختیځ له لوري مدیترانې نه د هند د سمندر تر لویدیځه پورې سیمې تر لاسه کړي،چې همدا اوس خپلې پخوانۍ هیلې ته رسېدلی دی.

سره له دې،چې زموږ د هېواد خاوره په هندو چین او منځنی ختیځ کې زموږ له مستعمرو نه ډېره لرې ده.

دا صحیح ده،چې موږ په رسمي توګه پر دغو هېوادو واک نه لرو او په ښکاره د دغو هېوادو حکومت په خپله د سیمې د استوګنو له خوا اداره کېږي؛خو په واقعیت کې د د غو هېوادو د حکومتي چارو چلوونکي زموږ سیاستونه تطبیقوي او په دغو هېوادو کې زموږ سیاسي غوښتنې بر لاس دي ان،چې له دوی نه د هر یوه راپرځول زموږ په لاس کې دي.

له دې امله نو موږ ته پکار دي،چې په دوو خبرو کې غور وکړو:

۱_ په دغو هېوادو د بشپړ سیاسي واک داسې ادامه چې لږه سستي هم پکې ونشي.

۲ _ په هغو هېواد کې،چې لاس مو ترې لنډ و، د واک او ځواک داسې ثابتول،چې هغوی هم له خپلو مستعمرو سره یو ځای کړو.

Made with Xodo PDF Reader and Editor

د بریتانیا د مستعمراتو وزارت زموږ په مستعمره سیمو او هېوادو کې د ا ستعماري اهدافو لپاره داسې ډلې جوړې کړي، چې د د ې پلان په پلي کولو کې يې پوره لاس پیدا کړ.
زه له هغو کسانو څنې وم،چې په دې برخه کې مې پوره پرمختګ وکړ. او په دغه وزارت کې د کار له پیله د وزیر په باوري کسانو کې شمېر وم.
څه موده راته د هند د ختیځ شرکت مدیریت راوسپارل شو، دغه شرکت په ښکاره خو یوه موسسه وه؛ خو په حقیقت کې يې د نیمې وچې پر پراخې خاورې زموږ واکمنۍ ته لار هواروله.
د بریتانیا حکومت پر هندوستان د خپل واک د دوام په باب پوره ډاډه و او په دې برخه کی يې څه اندېښنه نه درلوده؛ځکه هندوستان یو داسې هېواد و،چې له مختلفو قومونو، ژبو او سره مخالفو دینونو جوړ و او د همدغو اختلافاتو او رنګارنګي موجودیت پر دغه هېواد زموږ د واک د ټینګښت سبب و.
همداراز د بریتانیا دولت په چین کې هم د استعمار د ادامې په باب اندېښمن نه و؛ځکه په دغه سیمه کې بودايي دین او شهنشاه پرستي دود وه،دا داسې څه نه وو،چې د بریتاینا استعمار ترې وېرېدلای وای؛ځکه دا دواړه مړه قوامین او دینونه وو،چې له هماغه باطني او د ننینو چارو سره يې کار و او د ژوندانه د چارو له روزنې سره يې څه کار نه و، لنډه دا چې

Made with Xodo PDF Reader and Editor

د د غو دوو سیمو په خلکو کې د ملي شعور د پیدا کېدو وړه نه وه.
ځکه په دغو دوو سیمو کې یې د خپل واک په باب څه اندېښنه نه درلوده؛خو داسې هم نه وه،چې ګنې موږ په دغو دوو سیمو کې خپلې نقشې داسې عملي کولې،چې په دغو هېوادو کې دې همېشه ناپوهي، اختلاف او وخت ناوخت ناروغۍ خپرې وي او د دغو سیمو د استوګنو لټي او د ماغي نیمګړتیاوو موږ په دې بریالي کړي وو، چې په اسانۍ خپلې نقشې له اندېښنو پرته او له نظرونو نه پټې عملي کړو.
خو د دې پر عکس په اسلامي هېوادو کې همېشه اندېښمن وو، که څه هم له دغه رنځو رسړي (عثماني امپراطورۍ) سره یو لړ داسې تړونونه لاسلیک کړای شول،چې ټول زموږ په ګټه وو او د مستعمرو د وزارت د متخصیصنو د نتیجې له مخې دا رنځور وروستۍ سلګۍ کوي او همداسې مو په پټه د ایران له حکومت سره ځینې تړونونه لاسلیک کړای شول،چې په هغه هېواد کې زموږ د سیاست د پیاوړتیا سبب شول او یو زیات شمېر جاسوسان مو په دغو هېوادو کې ګمارلي وو، چې رشوت پکې رواج کړو او اداري فساد ته مو لار هواره کړه. د دغو هېوادو مشران مو له ښکلیو ښځو سره روږدي کړل او اخر د دغو دواړو هېوادو په تل کې زموږ د استعماري نفوذ لار پرانیستل شوه؛ خو بیا هم ډاډه نه وو،چې د دغو دواړو هېوادو د ټولو چارو واګې به تر لاسه کړو او دا له څو خواوو:

Made with Xodo PDF Reader and Editor

۱ _ د اسلام معنوي پیاوړتیا او د مسلمانانو په روح کی د اسلام نفوذ: څکه مسلمانان په اسلام دومره ټینګ دي؛ لکه مسیحیت،چې د کشیشانو او رهبانانو په روح کې اغېزلی دی. رهبانان په مسیحت دومره ټینګ دي،چې روح بې له بدنه وتلای شي؛خو مسیحیت ترې نه وځي. زموږ لپاره د ایران مسلمانان (شیعه) ډېر خطرناک وو؛څکه هغوی مسیحیان ناولي او پلیت ګڼي او مسیحي د شیعه وو په نزد د بدبویه ناولتیا یوه ټوټه ده،چې که په لاس یا بدن پورې ونښلي؛ لرې کول یې پکار دي؛ نو څکه ورسره ګډون نه شي کېدای.

له یوه شیعه نه مې پوښتنه وکړه، چې تاسې ولې له مسیحیانو سره داسې یاستئ؟

و یې ویل: د اسلام پیغمبر صلی الله علیه و آله وسلم هوښیار سړی و او غوښتل یې کافر په اسلامي ټولنو کې په داسې تنګسه کې وي، چې پخپله دعامې کرکې احساس وکړي او ښایي د کرکې او حقارت دغه احساس د دي سبب شي،چې اسلام ته رامات شي (۱) او دغه ناولتیا یوازې د مسیحیانو په باب نه ده؛بلکې د شیعه په منطق کې هر کافر ان مجوسیان (پخواني ایرانیان) هم ناولي دي. بیا مې ورته وویل: ستاسې دا خبره صحیح؛ خو مسیحیان ولې ناولي ګڼئ؟ هغوی خو نبوت،خدای او قیامت مني؟ ویې ویل: دا له دوو پلوو: یو خوا دا، چې هغوی د حضرت محمد پیغمبري نه مني او په دعوی کې یې دروغجن ګڼي. بله دا،چې هغوی د خدای په پیغمبرانو

Made with Xodo PDF Reader and Editor

پورې ناروا تورونه تړي او وايي،چې حضرت مسیح علیه السلام شراب څښي. ما ورته په حیرانتیا وویل: داسې نه ده،مسیحیان داسې نه وايي. هغه راته وویل: ته نه پوهېږې،په مقدس کتاب (انجیل) کې همداسې راغلي دي. زه چپ شوم، سره له دې،چې پوهېدم دویمه خبره یې دورغ ده (۲) خو لومړۍ خبره یې سمه وه، خبره مې ورسره له دې امله ونه شاربله،چې شکمن راباندې نشي؛ځکه ما ورته ځان مسلمان ښوولی و او له خپل اصلي دین سره مې د تعصب له ښکاره کولو نه ډډه کوله.

بل دا،چې اسلام یو وخت د ژوندانه او واکمنۍ دین و او گرانه وه، چې دا ښاغلی مې پوهولی وای،چې ته نوکر او مریي یې؛ځکه د باداري هغه غرور،چې یو وخت لومړي مسلمانان د نړۍ پیاوړي او ځواکمن وو، همېشه د دوی په مغزو کې دا کېنوله،چې د نړیوالې واکمنۍ لپاره هڅې وکړي، که کمزوري او بې ارزښته هم وي او زموږ لپاره گرانه وه،چې په اسلامي تاریخ کې داسې لاس ووهو،چې مسلمانان سره و نه پوهېږي،چې دوی یو وخت د نړیوالې مشرۍ او بادارۍ څښتنان وو او دا هم راته گرانه وه،چې دا ورته وښیو،چې ستاسې هغه تېره لویي او واکمني بېرته د راستنیدو نه ده او په دې توگه مو دوی له دې فکره ایستلی وای.

۳ _ دا هم وه،چې موږ د عثماني او ایراني حکومتونو دستې په دوام هم ډاډه نه وو او نه په دې،چې دوی دې راویښ

Made with Xodo PDF Reader and Editor

نشي؛بلکې دا وېره وه،چې هغوی ناڅاپه له هغو نقشو نه خبر نشي،چې موږ د هغوی پر هېواد د زور تسلط لپاره جوړې کړې وې او د عملي کېدو په حال کې وې.که څه هم دغه دواړه دولتونه په ناپوهۍ او کمزورۍ کې ډوب وو،چې د پاځېدو او ویښېدو وس یې نه درلود؛خو بیا هم د خپل هېواد پر حالاتو واکمن وو او پېسې او وسلې ورسره وې او تقریبا په خلکو کې نغښتې وو؛ نو ځکه ترې وېره کېده.

٤ _ بله ستره اندېښنه او نارامي مو زمونږ تر لاس لاندې اسلامي هېوادو له مسلمانانو علماوو نه وه، د الازهر، عراق او ایران علماء زموږ د هیلو په پرمختګ کی لوی خنډ وو، که څه هم هغوی د ورځني ژوندانه اصلونو ته ارزښت نه ورکاوه او یوازنۍ موخه یې هغه جنت و، چې خدای ورسره ژمنه کړې وه او ډېر لږ هم له خپلو اعتقادي اصولو څخه نه تېرېدل او ملت په همدوی پسې روان و. ایراني او عثماني پادشاهان هم ترې سخت وېرېدل. البته سنیانو د خپلو علماوو دومره خیال نه ساته او خپل ټول دیني،اعتقادي او معنوي عشق یې سلطان او شیخ الاسلام ته راغونډ کړی و؛خو شیعه ګانو خپل معنوي او روحاني عشق یوازې په علماوو پورې تړلی و. دغه ایماني توپیر دومره نه و،چې پر دغه هېوادو د بریتانیا د مستعمرو د وزارت اندېښنه کمه کړي. دا په اسلامي هېوادو کې زموږ د استعمار د تسلط په پرمختګ کې یو لړ مشکلات وو،چې د

Made with Xodo PDF Reader and Editor

مستعمرو وزارت؛ بلکې ټول سیاستپوهان او د بریتانیاد حکومت غړي یې اندېښمن کړي وو.
د دغو مشکلاتو د هواري لپاره مو زیات کمیسیونونه او غونډې جوړې کړې؛خو هر ځل به تر ډېرو خبرو وروسته څه نتیجې ته نه رسېدو او لار به مو بند ښکارېده او هغه راپورونه،چې په دغو هېوادو کې زموږ د جاسوسانو له خوا رارسېدل، ټول نا امیدوونکي وو او د دغو ټولو غونډو نتیجې صفر؛ بلکې تر صفره هم ښکته وې؛خو موږ بیا هم نا امیده نه وو او ځان مو یوې اوږدې ساه او اوږده صبر ته تیاراوه.
ښه مې یاد دي،چې په یوه کنفرانس کې،چې په همدې غرض جوړ شوی و او په خپله د مستعمرو وزیر مشر کشیش او د وزارتونو خبریالانو پکې ګډون کړی و او خبرې پکې درې ساعته روانې وې؛خو څه ترې جوړ نه شول. کشیش وویل:
"ګرانو ! خپه کېږئ مه ! عیسی مسیح علیه السلام پر حالاتو لاسبرى نه شو او دین یې نړیوال نه شو؛خو د درې سوه کلن رنځ، کړاو او شهادت تر زغملو وروسته،چې ده او ملګریو یې وزغمه کېدای شي، عیسی مسیح په خپله ملکوتي توجه سره موږ ته وګوري او د کفارو په له منځه وړلو کې مو بریالي کړي.که سل کاله وروسته هم وي؛نو په هرحال کې باید پر خپله موخه ټینګ ایمان ولرو او ځانونه په هر راز وسایلو سمبال کړو او په محمدي ټولنو کې د مسیحیت د خپرولو لپاره

Made with Xodo PDF Reader and Editor

هڅه وکړو.که څه هم نتیجه یې پیړۍ پیړۍ وروسته وي.هو پلرونو زامنو ته کرلي دي."

یوه ورځ په وزارت کې یوه ستره غونډه جوړه شوه،چې په بریتانیا، روسیه او فرانسه کې زموږ ټول جاسوسان او کارمندان پکې وو، زما لپاره په دغه غونډه کې ګډون ډېر ارزښتناک و او دا له وزیر سره د خاص ارتباط له ا مله وو.

په دغه غونډه کې د محمدیانو په مشکلاتو خبرې کېدې او د هغوی د بې لارې کولو او په عقایدو کې یې د درز اچولو په باب خبرې کېدې او دا خبره په یوه خوله کېده،چې لکه اسپانیا خپل زاړه مذهب (مسیحیت) ته ورستنه شوه، پکار ده،چې د هرې سیمې مسلمانان هم له اسلامه مخکې خپل مذهب ته واړول شي؛خو له دې غونډې نه،چې څه نتیجې تر لاسه شوې، ډېری په زړه پورې نه وې او ما د غونډې ټولې هغه خبرې اترې او مناقشې د "مسیح ملکوت" په نامه کتاب کې راخېستې دي. البته د هغې مضبوطې او پیاوړې ونې (،چې جرړې یې له ختیځ نه تر لویدیځ پورې غزېدلي) له بېخه را ایستل ډېر ګران دي؛ خو انسان باید ګران او سخت مشکلات هم هوار کړي.

مسیحیت په نړۍ کې د خپرېدو لپاره راغی او دا ژمنه د مسیح ده؛ خو محمد (ص)،چې بریالی شو او خپل تعلیمات یې پر نړۍ خپاره کړای شول،په دې،چې یو څه ورسره د نړۍ حالاتو او د ختیځ او لویدیځ د امپراطوریو د څوړتیا او انحطاط مرسته وکړه؛خو هغه شرایط له منځه ولاړل او خبره سرچپه او

Made with Xodo PDF Reader and Editor

پرعکس شوه، اوس محمديان په نړۍ له پاسه مخ پر ځوړ را
روان دي او مسيحي هېوادونه د پر مختګ، صنعت او قدرت
پر لوړو ولاړ دي او هغه وخت رارسېدلی،چې له محمديانو
خپل د څو پېړيو بدل او غچ واخلو او خپل له لاسه وتلې شان
له محمديانو راستون کړو (۳).

Made with Xodo PDF Reader and Editor

دویم یادداښت

پر ۱۷۱۰ میلادي کال د بریتانیا د مستعمرو د وزارت له خوا د اسلامي ملت د بیا لري کولو د لارو چارو د څېړنې لپاره په لس کسیزه ډله کې مصر،عراق، تهران، آستانې او حجاز ته واستول شوم. هغه نورو (۹) کسو هم زما غوندې پر اسلامي هېوادو د بریتانیا د غلبې په برخه کې خاص فعالیت درلود.د وزارت له خوا راته ښې پوره پیسې، معلومات او جوړې شوې نقشې راکړ شوې او د پادشاهانو، حکامو، د قبایلي مشرانو او علماوو نومونه یې رازده کړل،د خدای په امانۍ په وخت مې سکرتر سره خپلې خبرې نه هېرېږي،چې ویل یې:

" پوه شئ،چې زموږ د هېواد راتلونکی بری په تاسې پورې اړه لري، څومره زور،چې لرئ، د هدف د پرمختګ په لاره کې یې ولګوئ."

زه د عثماني امپراتورۍ د پایتخت "استانې" ښار پر لور،چې هغه وخت د اسلامي خلافت مرکز ګڼل کېده،روان شوم او دغلته زما د ورتګ وجه داوه،چې زه د مسلمانانو له دغو دریو (عربي، فارسي، ترکي) ژبو نه په ترکي ژبه ښه بلد یم،البته د ژبو زده کړه بیل شی دی او پر ژبه داسې تسلط،چې د ژبو والو او اهل زبانو په څېر وویل شي، بیل شی دی،ژبه په لږه موده کې زده کېدای شي؛خو پوره تسلط پرې وخت غواړي او هغه څه،چې ماته مهم وو، دا وو،چې هر هېواد ته له ورتګ سره باید داسې خبرې وکړم،چې خلک مې د هغې هېواد استوګن

Made with Xodo PDF Reader and Editor

وګڼي او بدګومانه راباندې نشي،داسې ډېر له دې نه وېرېدم هم نه،؛ ځکه مسلمانان ډېر په دې خبرو پسې نه ګرځي او پر هر چا د ښه ګومان کوي؛ځکه پېغمبر يې دستور ورکړې،چې له بدبينۍ نه ډډه وکړي. (٤) هغوی زموږ غوندې نه دي، که پر څه يې شک راشي، شک يې ژر له منځه ځي.له بلې خوا د ترکيي دولت د پوليس او اطلاعاتو مرکزونه دومره سمبال نه دي،چې له له واره جاسوس وپېژندلای شي. له دې پلوه هم عثماني دولت ډېر کمزوری و.

لنډه دا،چې تر يوه اوږده سفر او لرې مزله او ډېرو کړاوونو تر زغملو وروسته (استانې) ته ورسېدم.پر ځان مې محمد نوم کېښود او جومات ته ولاړم، جومات د عبادت لپاره د مسلمانانو د راغونډېدو ځای دی. ما ته د مسلمانانو په جومات کې په زړه پورې خبره،منظمه ناسته او خاص نظافت و،چې په عبادت کې يې ليدل کېده، له ځان سره مې وويل:ايا دا له وجدانه لرې نه ده،چې داسې دين سره مبارزه وکړو؟ او ازادي او ښيګڼې يې له منځه يوسو؟ ايا موږ ته مسيح دا امر کړی دی؟ نژدې دغو افکارو په زړه کې مې بدلون راوستی و، ناڅاپه وبوږنېدم او له واره مې ځان له دغو شيطاني سوچونو ازاد کړ او خپل عزم او اراده مې لا پسې پياوړې کړه،چې تر وروستي حده به دا لار پر مخ بيايم.

په جومات کې له يوه نيمزالي عالم سړي سره مخ شوم (احمد افند) نومېده، ډېر پاک سپېڅلی او نيت په خير سړی و،چې په

Made with Xodo PDF Reader and Editor

خپل هېواد کې مې په کشیشانو او دیني خلکو کې داسې څوک نه و لیدلی. شیخ شپه او ورځ دا هڅه کوله،چې ځان د پېغمبر په څېر وښیي او د ژوندانه په ټولو اړخو کې یې پېغمبر خپل مخکښ او لارښود ګڼلی و، او،چې د پېغمبر نوم یې اخېسته؛ نو سترګې به یې له اوښکو ډکېدې. له نېکه مرغه له شیخ سره د خدمت په ټولنه کې رانه شیخ یو ځل د اصل، نسبت او وطن پوښتنه ونه کړه او ماته یې محمدي افندي وایه او،چې رانه خبر شو،چې زه په دې ښار کې مسافر یم؛ نو بیا یې ډېره لورینه راباندې کوله؛ځکه ما ورته ویلي وو،چې زه مسافر یم، مورو پلار مې مړه دي؛خور او ورور هم نه لرم، البته یو څه شته راته پاتې دي چې زه غوړام په هغو پیسو یو څه کار وکړم او قرآن زده کړم؛ نو ځکه د اسلامي امپراتورۍ مرکز ته راغلم،چې هم دین وګټم او هم دنیا. شیخ زه کېنولم او یوه خبره یې راته وکړه،چې ما دلته کټ مټ ولیکله: ستا احترام له څو اړخو په ما واجب دی:

۱ـ یو خو ته مسلمان یې او مسلمانان سره ورونه دي.

۲ ـ ته میلمه یې او رسول الله فرمایلي دي،چې د میلمه درناوی وکړئ.

۳ ـ ته د علم زده کوونکی یې او اسلام د علم د زده کوونکي د درناوي او عزت په باب زیات ټینګار کړی دی.

٤ ـ ته غواړې حلال کسب و کار وکړې. په حدیث کې دي،چې کاسب د خدای دوست دی.

Made with Xodo PDF Reader and Editor

زه په دغو خبرو حیران شوم، له ځان سره مې وویل: کاشکې مسیحیت دغه روانه حقایق په خپلو تعلیماتو کې ځای کړې وای او حیرانتیا مې زیاته وه،چې اسلام نو بیا له دې ټولو حقایقو او لوړو اهدافو سره دومره کمزوری او بېوسي ولی دی؟ او مسلمانان په دغو خواشینوونکي انحطاط سره د مغرور حکومتونو په منګولو کې نښتي دي؟

شیخ ته مې وویل: غواړم قرآن زده کړم. شیخ زما د دې ارمان د درناوي او خوشالۍ لپاره پخپله زما استاد شو او قرآن یې راته له حمد" الحمد الله" نه شروع کړ او مطالب یې راته ټکی په ټکی تفسیرول، د شیخ غوندې راته د قرآن تلفظ ګران و، کله به دا ګرانه نوره هم ګرانه شوه. ښه مې یاد دي،چې د قرآن دا جمله (علی امم من قبلک) مې له لس وارې تکراره وروسته زده کړه؛ځکه شیخ ویل: دا جمله باید داسې ووایې چې په یو بل کې د میمونو له ادغام نه اته میمونه نور جوړ شي. خیر هر څه، چې وو،په دوو کلو کې مې پوره قرآن له سره تر پایه ولوست.

شیخ به چې هر ځل قرآن لوسته،اودس به یې کاوه او ماته به یې د اوداسه ویل او دواړه به مخ پر قبله کېناستو او دې به مشغول شو. د یادونې وړ ده،چې اودس د مسلمانانو په نزد د ځان او لاسونو داسې مېنځل دي،چې لومړی صورت مینځي (استنجا مراد ده) بیا تر څنګلو پورې ښې لاس او بیا کیڼ لاس، بیا پر سر، غوږونو اورمېږ لوند لاس راکاږي او بیا پښې وینځي

Made with Xodo PDF Reader and Editor

او ویل یې: چې لومړی باید انسان په خوله اوبه واچوي او بیا لرې پزې ته تېرې کړي او بیا په اوداسه لگیا شي. زه له یوازینې کاره چې مجبور وم، د مسلمانانو په څېر یې وکړم او ډېر پرې زهیرېدم، مسواک و او مسواک د غاښونو د پاکولو لپاره په خوله وهل کېدونکی یوه ټوټه لرگی دی از زه پوهېدم، چې دا لرگی غاښ،نه خرابوي او کله خو اوری هم ویني کوي؛ خو زه یې په کولو مجبور وم؛ ځکه دا د اسلام له نظره یو تاکیدي سنت و.

په استانه کې د استوگنې په وخت کې د جومات له خادم سره ویدېدم او له هغه سره مې د یو څو پیسو مرسته هم کوله،خادم یو قهرجن او بدخویه سړی و. مروان افندی نومیده،مروان د پیغمبر د یوه صحابي نوم هم دی او خادم هم په دغه نامه ډېر ویاړ کاوه او ماته یې ویل: که خدای زوی در کړ،مروان نوم پرې کېږده؛ځکه مروان د اسلام یو مجاهد شخصیت تېر شوی دی.

زه همېشه له دغه خادم سره وم او همده به راته ډوډی تیاروله. د جمعې پر ورځ،چې اسلامي اختر گڼل کېږي، کارته نه تلم؛خو په نورو ورځو کې له یوه ترکاڼ سره کار ته کېناستم او د یوې هفتې کار په بدل کې یې ډېر لږ څه راکول، ما نیمه ورځ کار کاوه؛نو د نورو کارگرو د نمایي معاش هومره یې راکاوه. ترکاڼ خالد نومېده. په وزگار وخت کې یې د رسول الله د یو یار خالد بن ولید د قهرمانی او فتوحاتو کیسې کولې. ترکاڼ به

Made with Xodo PDF Reader and Editor

ويل: عمر بن خطاب چې رامنځ ته شو؛ نو خالد یې له کاره
گوښه کړ.

خالد(ترکانۍ) یو قهرجن او بدخویه سړی و؛خو ما یې ډېر
خیال ساته؛ خو زه یې په وجه نه پوهېدم. ماویل ښایي دا به له
دې امله وي، چې زه د هغه په دیني او کسبي چارو کې ډېر غم
غرض نه لرم او د هغه د چال چلن په باب څه نه وایم او خبرې
ته یې لاس په نامه یم،کله به چې سره گوښه کېدو؛نو غوښتل
یې چې جنسي غریزه راباندې سړه کړي. البته دا کار د
مسلمانانو له نظره سخت منع دی؛خو خالد داسې سړی و،چې
د مذهبي مسایلو په ارزښت ډېر اړ نه و. که څه هم په ظاهره
یې خلکو ته ځان په تقوی ډېر ټینگ ښوده؛خو د جمعې
لمانځه ته راته او نورو لمونځونو ته جومات ته نه راته، زه پرې
نه پوهېدم، چې نور لمونځ کوي که نه؟

ما دده دا ناوړه غوښتنه نه منله او دا مې گڼله، چې له خپل یو
بل شاگرد سره به، چې د (سلانیک) استون او ډېر ښکلی و،
لومړی یهودی و؛ خو وروسته مسلمان شوی و دا کار
کوي؛ځکه ځینې وخت به هغه یوازې دوکان ته دننه،چې د
لرگیو ډېری پکې وه د دوکان د پاکولو په پلمه ننه ایسته او تر
څه وخت به دواړه سره لگیا وو.

ما به د غرمې ډوډۍ په دوکان کې خوړه بیا به د لمانځه لپاره
جومات ته تلم،تر مازیگره به په جومات کې وم، بیا به د شیخ
احمد کاله ته تللم او دوه ساعته به مې ورسره قرآن،د ترکې

Made with Xodo PDF Reader and Editor

ژبې ګرامر او عربي ادبيات لوسته او هره جمعه به مې د زکوه په نامه يو څه پيسې ورکولې. په حقيقت کې دا شيخ ته رشوت ورکول وو؛ځکه هغه له ما سره د ارتباط لپاره د کار سړی و. شيخ هم زما په زده کړه کې لږه ستوماني هم نه ښکاره کوله. قرآن د اسلام اصول او د عربي او ترکي ژبې رموز يې رازده کول.شيخ احمد پوهېده چې ما واده نه دی کړی. ډېر ټينګار يې کاوه،چې د ده له يوې لور سره واده وکړم او چې د شيخ ټينګار له حده زيات شو او دومره زيات،چې که د ده غوښتنه مې نه وای منلې؛ نو ترېون او راشه درشه مو شلېده. ويل يې چې واده (نکاح) د پيغمبر سنت دی او رسول الله فرمايلي دي: څوک چې زما له سنتو نه غاړه وغړوي؛ زما دوست نه دی؛ نو مجبور شوم، دروغ ورته ووايم چې زه خصي يم او جنسي قوه نه لرم او چې شيخ ايله زما په دې خبره سوړشو او بې له خپګانه له خپل ټينګاره تېر شو.

په استانه کې د دوو کلو وروسته مې له شيخ نه اجازه واخېسته،چې وطن ته ځم. شيخ و نه منله. ويل يې: چېرته ځې؟ دلته هر څې چې دې زړه وغواړي شته. دلته دين هم شته او دنيا هم او ته خو وايې، زه مور، پلار،خويندې او ورونه نه لرم؛نو بيا خو ښه داده چې استانه وطن وګڼې او همدلته پاتې شې. د شيخ دا ټول ټينګار له ما سره د مينې له وجهې و. ما هم ورسره مينه درلوده؛خو زما د ملي دندې غوښتنه وه، چې لندن ته ستون شم او هغه اطلاعات چې په دوو کلو کې مې د

Made with Xodo PDF Reader and Editor

مسلمانانو د حکومت له مرکزه راغونډ کړی وو، ټکی په ټکی وړاندې کړم. په دې موده کې مې هم پروګرام همدا و، چې پر له پسې خپلې کتنې او څېړنې په لنډه توګه په هغو لیکونو کې چې د بریتانیا د مستعمرو وزارت ته مې لیکل، ولېږم.
ان په خپل یوه راپور کې هغه وړاندیز او تجوزیز،چې ترکانڼ رانه د همجنسولی غوښتنه کړې وه وزارت ته ولیکله، هغوی ځواب راکړ: که پوهېږې دا کار ستا د څېړنو په بشپړتیا کې موثر وي، ته موظف یې چې دا کار هم وکړې؛ خو ما چې دا فرمان وکوت،ډېر خواشینی شوم او له ځان سره مې وویل چې څومره ناولی کار مې مخکې کړی او زما مشران څومره بې وجدانه خلک دي، چې ماته د داسې ناوړه کار د کولو امر کوي؛ خو بې له دې، چې پروګرام پر مخ بوځم، بله چاره نه وه.
له شیخ سره د خدای پامانۍ ورځ عجیبه غموونکې جنجالي ورځ وه، د شیخ اوښکې پر مخ روانې وې، زه یې په سینې پورې جوخت نیولی وم، ویلې یې: زویه خدای دی مل اوسه. که دې ښار ته بیا راغلې او زه مړ هم وما؛نو ما هېر نه کړې او هیله من یم ډېر ژر په محشر کې د رسول الله په حضور کې سره ووینو. د شیخ عواطفو په ما عجیب اثر پرې ایست،اوښکې مې بېواکه روانې شوې؛خو دنده تر عاطفې لوړه ده.

Made with Xodo PDF Reader and Editor

دریم یادداښت
زما نهه نور ملګري هم په نورو اسلامي هېوادو کې خپاره وو، زما غونډې هغوی هم د وزارت له خوا وغوښتل شول؛خو له بده مرغه له موږ لسو کسونه ایله شپږ لندن ته ستانه شول او د سکرتر د وینا له مخې مصر ته لېږلې ملګري مو همله مسلمانان شول او همله پاتې شول؛خو د سکرتر وینا ده، چې له مسلمانیدو سره سره یې د رارسېدلو اطلاعتو له مخې تر اوسه د کار له رازه پرده نه ده لرې کړې او د کار له جریانه یې څوک نه دي خبر کړي.
له پاتې څلورو نه یو، چې روسیې ته لېږل شوی و، همله پاتې شو او هغه له اصله هم روسی و، سکرتر د هغه په باب له مخکې نه اندېښمن و چې له هماغه لومړي سره به په وزارت کې د روسانو جاسوس وي او د وزارت رازونه یې د روسیې امپراتورۍ ته برسېره کړي دي.
عراق ته استول شوی دریم ملګری مو بغداد ته نژدې په عماره ښار کې د وبا له امله مړ شو.
څلورم سړی بېخي ورک شو او هیڅ پته یې ونه لګېده او وزارت ته یې د یمن تر پایتخت (صنعا) پورې پته وه او تر یوه کاله پورې یې اطلاعات پر له پسې رارسېدل؛خو بیا ورک شو او څرګنده نه شو، چې څه پرې وشول.
د وزارت لپاره د د غو څلور کسو له لاسه وتلستره ضایعه وه، موږ د خپلو ملګریو له هر یو لپاره دقیق حساب نیولی دی؛ نو

Made with Xodo PDF Reader and Editor

موږ یو داسې ملت یو،چې شمېر مو کم خو کار مو درون و او د یوه کس له لاسه ورکول هم راته یو مصیبت دی. لنډه داچې ما له سره تر پایه خپل اطلاعات سکرتر ته په مخکې کېښوول او سکرتر د اطلاعاتو تر سرسري اورېدو وروسته زه هغه کمیسیون ته ولېږلم، چې زموږ د راپورونو اورېدو ته جوړ شوی و. په کمیسون کې د مستعمرو دوزارت پوهان راغونډ شوي وو او په خپله وزیر د کمیسون مشري په غاړه درلوده.
لومړی مې ملګریو خپل اطلاعات وړاندې کړل او بیا ما خپل دوه کلن راپونه واورول، وزیر او سکرتر زما کار ډېر وستایه؛خو د کار د څرنګوالي له مخې په شپږو کې زه درېیم سړی وم، نور دوه همکاران مې بیلکود او اچ فرانس ترما ښه وو.
البته د ترکي، عربي، قرآن او شریعت په زد کړې کې زما پر مختګ ډېر ښه و؛خو داسې اطلاعت مې تر لاسه نه کړای شول چې وزارت ته د عثماني دولت کمزوري وروښیم،چې د وزارت د استعماري موخو په تر لاسه کولو کې موثر وي.
کمیسون شپږ ساعته لګیاو، تر کمیسون وروسته مې د سکرتر له غوږه تېره کړه، چې په دغه سفر کې زما زیاتره وخت د ترکي او عربي ژبې او قرآن په زده کړه تیر شوی؛نو د عثماني دولت د سیاسي اړخونو څېړنې ته مې پوره وخت نه درلوده او هیله ده چې په راتلونکې کې موثر نقش ولرلای شم. سکرتر په موسکا زه تشویق کړم، لاس یې راته پر اوږده کېښود، ویې ویل: په رښتیا چې په راتلونکې کې کامیاب یې،موږ هیله لرو

Made with Xodo PDF Reader and Editor

په دې لار کې تر ټولو مخکې شي او ستا په دغه ارزښتمن سفر کې دوه غرضه پراته دي:

۱ _ دا چې د مسلمانانو کمزورې برخې راوسپړې او په دې وپوهېږې چې له کومو لارو د اسلامي ټولنې تل ته لار پیدا کولای شو او ملیت او وحدت یې سره ګډوډولای شو؛ځکه پر دښمن د بریالیتوب بنسټ همدا دی.

۲ _ که د مسلمانانو کمزورې برخې دې پیدا کړې او د د دوی وحدت ګډوډولو ته مجبور شوې؛ نو که کېدای شول؛ له هماغې لارې یې د اتحاد ړنګولو او د ملیت او قومیت غوښتنې روحیې خپرولو ته اقدام وکړه او که په دې کار بریالی شوې؛نو پوه شه، چې د وزارت له خوا به درته ستر منصب درکړ شي.

زه شپږ میاشتې په لندن کې پاتې شوم او د تره له لور (مادی شوای) سره مې واده وکړ، هغه له مانه یو کال مشره وه، زه دوه ویشت کلن وم او هغه درویشت کلنه. ښکلی وه؛ خو په هوښیارۍ او استعداد کې بده نه وه.

زما د ژوندانه خوږې شپې همدا شپږ میاشتې وې، چې له ښکلې ناوې سره مې تېرې کړې.هغه امیندواره شوه از په تمه وم، چې خپل بچی وګورم؛خو وزارت امر وکړ په خپل کار پسې عراق ته ولاړ شم.

عراق له ډېر پخوا راهیسې د عثماني حکومت تر استعمار لاندې و، ما لپاره دا سفر ډېر په زړه پورې ځکه نه و چې زه د خپل زوی د لیدو هیله من وم؛ خو زما ملي وظیفې، د ښځې

Made with Xodo PDF Reader and Editor

مینه، عاطفه، شخصیت، شهرت او د زوی علاقه هر څه لاندې کړي وو؛ نو څنګه مې چې د وزارت له خوا حکم واورېد؛ د خپلې ځوانې ښځې د غوښتنې او ټینګار پر خلاف مې له واره نوی ماموریت ومانه او له هغې نه د بېلتون پر ورځ د هغې اوښکو او سلګیو سخت وځورولم، ژړغونې او مړاوې څېرې یې وژړولم، راته یې ویل: لیکونه همېشه رالېږه، چې د دې څو میاشتنې ژوندانه زرینې خاطرې دې پرې تازه کېږي، د هغې دا غوښتنه دومره محرومانه او بېوسي وه، چې د زړه په نغري کې د چاودنې په څېر وه او نژدې یې له سفر او ماموریته لاس په سر کړی وم؛خو د خپلو عواطفو واګې مې راښکلې او له مېرمنې سره مې خدای پاماني وکړه،وزارت ته ولاړم، لازمې لارښوونې مې ترې واخېستې او روان شوم.

شپږ میاشتې وروسته په لار کې وم، چې د عراق بصرې نومې ښار ته ورسېدم،بصره یو قبایلي ښار دی،استوګن یې سنیان،شیعه، عرب او ایرانیان دي، یو کم شمېر مسیحان هم پکې اوسي.

زما په عمر کې دا لومړی ځل و او په دې ښار کې مې شیعه او ایرانیان لیدل.

دلته بېځایه نه ده، چې د شیعه او سني د پېژندګلوی په باب څه ووایم: شیعه هغه مسلمانان دي،چې د اسلام د پیغمبر زوم او د فاطمې خاوند علي بن ابیطالب ته منسوب دي، علي پر زومولۍ سربېره د پیغمبر اکرم د تره زوی هم و.

Made with Xodo PDF Reader and Editor

او شیعه وایي چې پیغمبر خپل ځایناستی غوره کړی و او علي او یولس زامن یې یو په بل پسې د پیغمبر ځایناستي دي.
زما خیال دی،چې شیعه په حقه دي؛ځکه د اسلام د تاریخ له مطالعې نه ماته ثابته شوه،چې علي داسې یو لړ امتیازات درلودل،چې په مسلمانانو کې د مشرتوب او د ملت د لارښوونې لپاره غوره وو. حسن او حسین خو په خپله سنیان هم مني؛ځکه چې پیغمبر یې په هکله ویلی وو، چې حسن او حسین دواړه امامان دي؛ خو زه دا نه شم منلای چې پیغمبر به د حسین (۹) نه گوني زامن هم ځایناستي کړي وي (۵) او که محمد غوره کړي هم وي؛ نو هغه له راتلونکې نه څه خبر و؟
ځکه محمد چې څه وخت له دنیا رحلت کاوه حسین لا هلک و؛ نو هغه څنگه پوهېده، چې د زوی پلار شي او نسل به یې تر نهو اولادو او هغه هم ټول د امت د مشرۍ لپاره دنیا ته راځي.
هو! که محمد رښتیا پیغمبر و،کېدای شي له راتلونکي خبر اوسي او خدای له راتلونکي نه خبر کړی اوسي؛ لکه مسیح یې، چې له راتلونکې نه خبر اوه؛ خو د هغه (محمد) پیغمبري زموږ له نظره شکمنه ده،مسلمانان وایي قرآن د محمد د پیغمبرۍ لپاره پوره دلیل دی؛خو ما قرآن لوستی، په هغې کې مې داسې څه ونه موندل.
البته د قرآن په لویوالی که څه شک نه شته او له تورات او انجیل نه ډېر او چت او ارزښتناک دی.

Made with Xodo PDF Reader and Editor

ځکه په قرآن کې ډېرې لويې اخلاقي چارې او قاعدې پرتې دي؛ خو ايا يوازې همدا د محمد د پيغمبرۍ دليل کېداى شي؟
زه د محمد په باب سخت حيران يم، يو بيدياني او بدوي سړى، چې ليک لوست هم نشي کولاى، څنگه داسې کتاب راوړاى شي؟
دا کتاب ډېره هوښياري،پوهه او استعداد غواړي، چې په نننيو روڼ فکرو عربو کې هم نه شته،د هغه وخت بدوي عرب خو پرېږده چې ليک لوست يې هم نه و زده. له يوې خوا په دې انديښنو کې ډوب يم او بل خوا فکر کوم چې ايا همدا ده د پيغمبرۍ دليل کېداى شي؟
په دې باب ما له ځينو مسيحي پوهانو سره هم خبرې کړې دي؛ خو څه پوخ ځواب مې نه دى اورېدلى؛بلکې له خبرو نه يې دښمني او تعصب څرګنده. په ترکيه کې مې له شيخ احمد سره هم همدا خبره وشاربله، هغه هم قانع نه کړاى شوم؛ خو زيات څه مې ورسره؛ځکه ونه ويل، چې دخپل راز له برسېرېدو راباندې له شکمنېدو نه وېرېدم.
خير زه محمد يو داسې ستر عنصر ګڼم، چې زما له اټکل نه وتل او منلې خبره هم همدا ده،چې هغه د خداى د پيغمبرانو يو داسې لاروى دى،چې کيسې او حالات مې يې د شمرانو په کتابونو کې لوستې دي؛ خو پر پيغمبرۍ مې يې لا ايمان نه دى راوړى.

Made with Xodo PDF Reader and Editor

خو که ووایم چې پیغمبر نه دی؛ نو نابغه یې هم نه شم ګڼلای؛ځکه په دې کې شک نه شته چې هغه له نابغه وو نه ډېر اوچت دی او تر ټولو پوه او هوښیار دی.

خو سنیان وایي چې تر پیغمبر وروسته مسلمانانو رای ورکړه، چې لومړی دې ابوبکر بیا عمر بیا عثمان او بیا علي خلیفه وي او له همدې امله یې نو د پیغمبر پر دې فرمان، چې تر هغه وروسته دې علي خلیفه وي، سترګې پټې کړی او دا نور یې ترې د خلفا الرسول په توګه مخکې کړل.

داسې شخړې او لانجې په هر دین کی وي.په مسیحیت کې داسې شخړې او اختلافات له لومړي سره وو؛ خو نه پوهېږم، چې مسلمانانو ولې تر اوسه روانې کړې دي؟ اوس چې عمر او علي دواړه ولاړل، مسلمانانو ته پکار دي، چې پر خپل او سني وضع غور وکړي، نه پر پخواني.

یوه ورځ مې د وزارت له لویانو سره د شیعه او سني پر اختلافاتو خبرې کولې او دا مې ورته ویل چې که دوی هوښیاران وای؛ اختلافات به یې شاته کړي وای (٦) د مربوطې څانګې مشر راته نیغ شو و یې ویل: ته د اختلاف د تاثیر په زیاتولو کې په هڅه موظف یې او موږ باید مسلمانان د یوې ورځې اتحاد ته هم پرې نه ږدو.

او همدا شان راته سکرتر هم عراق ته له سفر نه مخکې په یوه غونډه کې وویل: همفري! پوهېږې،له هغې ورځې چې خدای بشر پیدا کړی شخړې او اختلافات پکې پیدا شو،له هابیل او

Made with Xodo PDF Reader and Editor

قابیل نه پیل شو او د مسیح تر راستنېدو به په نړۍ کې روان وي او کېدای شي، د انسانانو ترمنځ خپلمنځي اختلافات په لاندې پینځو ډولونو وي.

۱ _ د رنګ اختلاف.

۲ _ د جغرافیایي پولو اختلاف.

۳ _ قبایلي او کورنی اختلاف.

٤ _ مذهبي اختلاف.

۵ _ تاریخي اختلاف، په تېرو پېښو او واقعاتو پوې اړه لري.

بله ستره دنده په دې سفر کې ستا پر غاړه داده،چې د مسلمانانو (سني شیعه) هغه اختلافي ټکي، چې دوی له یو بله بیلوي راپیدا کړې او لمن ورته ووهې او په دې لړ کې وزارت ته ارزښتمن اطلاعات ور په لاس کړې او ته وپوهېږه، چې که ته خپله د مسلمانانو ترمنځ د اختلاف زړی شوې، د بریتانیا لپاره به دې په خدمت کې ستر برې ګټلی وي.

څکه موږ انګلیسانو ته ګرانه ده، چې تر هغې له هر اړخه سوکال او ارام کېدای نشو، چې تر څو مو په خپلو ټولو مستعمرو کې د فتنې او اختلاف اور ته لامن نه وي وهلې او عثماني امپراتوري هم هغه وخت رانسکورولای شو، چې په ملت کې یې فتنه راولاړه کړو، که نه نو څنګه کېدای شي، چې یو موټی خلک پر یوه ستر او لوی ملت باندې برلاسی شي؟ او دا هم درسره یاد ساته، چې د ترکو سلطنت او د فارس حکومت کمزوري شوي او ته باید یوازې د حکومتنو پر

Made with Xodo PDF Reader and Editor

خلاف د ملتونو د پارلو وسایل برابر کړي. لنډه دا چې که په دوی کې اختلاف پیدا شو او د دغو حکومتونو زور خپورووړ شو؛نو موږ په ډېره اسانۍ کولای شو،چې استعمار يې کړو.

Made with Xodo PDF Reader and Editor

ځلورم یادداښت

زه چې بصرې ته ورسېدم،په یوه جومات کې مې واړول، د جومات مشر او امام د اهل سنتو یو شیخ او له اصله عرب و، شیخ عمر طایي یې ورته وایه،له شیخ سره بلد شوم او درناوی مې پر ځای کړ؛ خو شیخ له هماغه لومړۍ شپې رابانديې شکمن غوندې شو، د نامه او اصل و نسب پوښتنه یې رانه وکړه، ماویل چې زما لهجې او رنګ به شیخ ته شک پیدا کړې وي؛خو هڅه مې کوله چې د شیخ بدګوماني له ځانه لرې کړم؛ نو ورته مې وویل: زه د ترکیې د اعدیر یم، په استانه کې د شیخ احمد شاګرد وم او د خالد ترکانړ په دوکان کې مې کار کاوه او د ترکیې په باب راسره اطلاعات مې شیخ ته وړاندې کړل او ان ځینې ترکي کلمې او جملې مې هم له قصده وویلې. ښه مې ورته کاته، چې شیخ خپل یو مرید ته، چې په ترکي پوهېد سترګه وهله،چې دی دا جملې سمې وایي که نه؟ او هغه د سر په خوځولو ښوده، چې سمې یې وایم، بیا به خوشحاله شوم، چې که خیر وي د شیخ شک لرې شو؛ خو څه موده وروسته پوه شوم،چې زما اټکل سم نه و او شیخ راته د شک په سترګې کتل او ترکی جاسوس یې ګڼلم.د شیخ او د بصرې د ولسوال (چې عثماني دولت ټاکلی و) څه اختلاف و. ما بې له دې، چې د شیخ عمر جومات پرېږدم، بله چاره نه درلوده. د مسافرو یوه سرای ته ولاړم او یوه کوټه مې پکې کرایه کړه.سرای وان یو لوده او احمق غوندې سړی و ارام ته یې نه پرېښودم، هر

Made with Xodo PDF Reader and Editor

سهار به راغی، لمانځه ته به يې له خوبه پاڅولم،ما هم منله،دې په دې هم نه بسيا کېده، مجبورولم يې چې تر لمر خاته پورې قرآن ولوله،ما به ورته ویل: لمونځه فرض دي قرآن لوستل خو فرض نه دي. هغه به ویل: د لمر خاته او لمر پرېواته په وخت خوب په سرای کې د لوړې او خوارۍ سبب دی.ما څه نه شول ویلای؛ځکه راته يې ویل چې که داسې ونه کړې؛نو له سرای نه دې وباسم، زه مجبور وم هر سهار تر اذان وروسته لمونځ وکړم او تر یو ساعته زیات وکم قرآن ولولم، سراښوان (مرشد افندي) په دې هم بسیا نه شو، یوه ورځ راغی، و يې ویل: تا چې له کومې ورځې دا کوټه کرایه کړې زما په کار کې خنډ پیدا شوی او همېشه مې ځوروی او زه دا ستا له بد پل او قدمه ګڼم، ستا بدقدمي داده چې ته لونډ او جره يې او جره بدمرغه وي؛نو باید واده وکړې او یا له سرایه ووځه. ورته مې وویل: پیسې نه لرم چې واده وکړم.و مې ویل که ده ته هم ووایم، چې خراب یم نو دې خو ناپوه سړی دی، وايي به زه دې ګورم چې رښتیا وايي که دروغ؟ نو ما وویل: پیسې نه لرم. مرشد افندې وویل: عجب بې ایمانه سړی يې، تا په قرآن کې نه دي لوستې، چې خدای فرمايي: **إِن يَكُونُوا فُقَرَاء يُغْنِهِمُ اللَّهُ مِن فَضْلِهِ** (نور/۳۲) ځوک چې واده وکړي، که بیوزلی وي؛ خدای يې په خپله شتمن کوي. زه حیران شوم، چې څه وکړم؟ او څه ځواب وکړم؟ ما ویل ډېره ښه ده. خو څنګه بې پیسو

Made with Xodo PDF Reader and Editor

واده وکړم، ته پور پېسې راکوې؟ یا راته یوه ښځه پیدا کولای شې، چې مهر و نه غواړي؟
مرشد افندي لږ غلی شو، ویې ویل: په دې خبرو نه پوهېږم؛ خو یا باید د رجب میاشتې تر لومړي پورې واده وکړې او یا له سرایه ووځه. د رجب تر لومړۍ پورې پینځه ویشت ورځې پاتې وې.
دلته د اسلامي میاشتو نومونه یادونه بېځایه نه ده.
محرم، صفر، ربیع الاول، ربیع الثاني، جمادي الاول، جمادي الثاني، رجب، شعبان، رمضان، شوال، ذي العقده، ذي الحجه.
د میاشتو حساب د میاشتې د لیدو له مخې کېږي.میاشتې له دېرشو ورځو زیاتې او له نهه ویشتو کمې نه وي؟
لنډه دا چې د سریوان په زور په نه زړه او بد رنګ د یوه بل ځای په لټې پسې راووتم. له یوه ترکانړ سره مې خبره وکړه، چې په دوکان کې به کار هم کوم او شپه او خواړه به هم هملته کوم. د ټاکلې نېټې تر رارسېدو د مخه له سرای نه د ترکانړ دوکان ته راغلم،ترکانړ یو لوروونکی او خوږ سړی و. له ما سره یې زوی غوندې چلند کاوه.عبدالرضا نومېده، د ایران د خراسان شیعه و او په بصره کې مېشت شوی و. ما ورسره له وخت نه استفاده وکړه او فارسي مې ترې زده کړه،شیعه ګانو او په بصره کې اوسېدونکي ایرانیانو هر مازیګر د ده د دوکان په مخکې غونډه کوله او پر اقتصادي او سیاسي چارو یې خبرې کولې. د دې ځای شیعه ګان عثماني حکومت او د ایران

Made with Xodo PDF Reader and Editor

حکومت ته سخت په غصه وو. په خپلو کې به د ایراني دولت او عثماني حکومت د جنایاتو او ناروا و په باب غږېدل او چې ځنګه به نا اشنا رابنکاره شو؛ خبره به یې په بله واړوله او د خپلو شخصي مسایلو په باب به اخته شول، زه حیران وم، چې پر ما یې ځنګه باور کړی او زما په مخکې په جار د سیاسي او ضاع په باب غږېږي؟ خو وروسته پوه شوم، چې هغوی پر ما د اذربایجاني ګومان کړی دی؛ځکه زه یې لیدم چې ترکي ګړېږم او سپین پوستی یم. د اذربایجان خلک به سپین پوستي وی. دوکان ته د راتلونکیو خلکو په ډله کې مې یو ځوان د دیني طالب العلمی په جامو کې ولید،چې په دریواړو (عربي، ترکي، فارسي) ژبو ښه پوهېده او محمد بن عبدالوهاب نومیده، لوړ خیالی، قهرجن او د عثماني حکومت سخت مخالف و. د دوکان له خاوند (عبدالرضا) سره ملګرتیا یې له دې امله وه،چې دواړه د عثماني دولت پر وړاندې مخالفه نظر درلود؛خو عجیبه دا وه، چې دا ځوان په ایراني ژبه څنګه داسې ښه پوهېده؟ سره له دې،چې له اصله عرب دی او په فکر کوم چې دوی دواړو ترمنځ د دوستي تړون څنګه شوی. عبدالرضا،سخت متعصب شیعه او محمد بن عبدالوهاب سني دی؛خو دا هم لرې نه وه؛ځکه په بصره کې سنیان او شیعه په پخپلو کې سره اغږلي او د وورونو په څېر یې ژوند کاوه او فارسي ژبه هم د بصرې په خلکو کې دومره زیاته رواج وه؛ لکه په ترکي، چې پوهېدل.

Made with Xodo PDF Reader and Editor

محمد بن عبدالوهاب یو ازادي غوښتونکی ځوان و او له شیعته گانو سره په مخالفت او مبارزه کې یې زیاتی نه کاوه، د ځینو سنیانو پر خلاف د دوی ځینې مشایخ شیعه گان کافر دي او وایي، چې شیعه مسلمانان نه دي. محمد بن عبدالوهاب د اهل سنتو څلورگونو مذهبو ته هم څه ډېر ارزښت نه ورکاوه او ویل یې دا خو څه خدای نه دي نازل کړي.

دڅلورگونو مذهبنو کیسه داسې ده چې:

په څه له پاسه یوه پېړۍ کې په مسلمانانو کې څلور کسه (ابوحنیفه، مالک بن انس، احمد بن حنبل، محمد بن ادریس شافعی) پیدا شول، د وخت حکومتونو خلک مجبور کړل، چې په مذهبي چارو کې د دغو څلورو کسو پر پله ولاړ شي او اعلان یې کړه، چې له دې څلورو پرته هیڅوک له قرآن او سنتو نه د خدای د حکم د را ایستو حق نه لري.

د وخت د حکومتونو له خوا د اجتهاد مخنیوی د دی سبب شو، چې مسلمانان له فکري پلوه په ټپه ودرېږي او د دغو څلورو کسو پلویان شي. البته په دې منځ کې شیعه گان غلي کېناستل او خپل مذهب یې چې په قرآن او د پېغمبر په سنتو کې د فکري حرکت او اجتهاد پر بنسټ ولاړ و، په یوه پراخه منطق سره خپور کړ. سره له دې، چې هغه وخت شیعه ټولی د سنیانو لسمې ته هم نه رسېده. مخ پر زیاتېدو سره او د سنیانو پر وړاندې یې د یوه پیاوړې صف په توگه ځان څرگند کړ.

Made with Xodo PDF Reader and Editor

د یادونې وړ ده، چې اجتهاد په هر وخت کې په اسلامي فقه کې یو بدلون راولي او په اجتهاد د وخت له غوښتنو سره سم نوي نوي مطالب له اسلام نه تر لاسه کېږي، چې په دې توګه مذهب داسې وسله ده، چې هر ورځ باید په نوې بڼه په نړۍ کې رامنځ ته شي؛ خو که مذهب په یوې ځانګړې لاره او محدودو افکارو کې را ایسار شو؛ نو د پوهې ور بندېږي او د ټولنې اړتیاوې نه تر سره کېږي او مذهب باید د یوې زړې او له کاره لوېدلې وسلې په توګه کېښود شي. که ته زړه او زنګ وهلې وسله ولرې او دښمن دې نوې او عصري وسله ولري؛نو دښمن دربانديې هرومرو برلاسېږي. زه فکر کوم ډېر ژر به سنیان عقلا دا ومني،چې له وچ تقلیده لاس واخلي او د اجتهاد ور په سمه توګه پرانېځي او که دغه پلان رامخکې نشي؛ د سنیانو ټولنه به ډېر ژر سره وشیندل شي او شیعه مکتب به ټوله اسلامي ټولنه ونیسي.

دغه لوړخیالی (محمد بن عبدالوهاب) زلمی د خپلې پوهې مقلد او هغه څه یې منل، چې په خپله له قرآنه پوهېده او ډېر لږ یې د اهل سنت د مشایخو نظریې منلې،د څلورګونو امامانو په فتواوو او ان کله کله یې د ابوبکر او عمر په پوهې پوې هم خندل او کله به چې له قرآن نه په کوم حقیقفت پوه شو، چې څلورګوني مذهبونه یې پر خلاف پوهېدلي؛ د هغوی نظر او عقیده به یې پر دېوال ویشته او همېشه به یې ویل: پیغمبر اکرم فرمایلي دي: انی مخلف فیکم الکتاب والسنه (ما تاسې ته د

Made with Xodo PDF Reader and Editor

خدای کتاب او سنت پرې ایستی دی.) او دا یې نه دي ویلي، چې تاسې ته مې د خدای کتاب،سنت،صحابه او مذهبونه پرېښي؛نو پر موږ د کتاب او سنت پېروي فرض ده؛ نه د مذهبونواو صحابه وو هغه رایې، چې د قرآن او سنت مخالفې دي.

یوه ورځ عبدالرضا ته شیخ جواد قمي شیعه عالم راغی او هغه د شیعه عالم په ویاړ یوه درنه مېلمستیا وکړه،زه هم پکې وم او محمد بن عبدالوهاب هم و.شیعه عالم او محمد سره په خبرو کېوتل، ما ته د هغه بحث ټولې خبرې یادې نه دي؛خو یو څو مې په یاد کې پاتې دي:

شیخ جواد محمد ته وویل: ته چې داسې ازاد خیاله سړی یې، چې د مذهب د خاوندانو تقلید نه کوې؛نو ولی د شیعه ګانو غوندې د علي پېروي نه کوې؟

محمد وویل: علي هم د عصر او نورو صحابه وو غوندې دی او وینا یې شرعي دلیل کېدای نه شي،شرعي حجت یوازې قرآن او سنت دي.

شیخ قمي وویل: علي څنګه له عمر او نورو صحابه وو سره فرق نه لري؟ چې پیغمبر د هغه په باب فرمایلی دي:

انا مدینة العلم و علی بابها: زه د علم ښار یم او علي یې ور دی.

محمد وویل: که د علي وینا سند وای؛ خو پیغمبر به فرمایلي وای، چې تاسې ته مې د خدای کتاب،سنت او علي

Made with Xodo PDF Reader and Editor

پرېښوول،ولې يې وويل چې د خدای کتاب او سنت مې درته پرېښوول؟ شيخ قمي وويل: پيغمبر بيا دا فرمايلي دي: انی تاريک فيکم الثقلين کتاب الله و عترتي (تاسې ته مې دوه درانه شيان پرېښوول،يو د خدای کتاب او بل مې عترت)
علي د پيغمبر د عترت (کورنۍ) مشر و، محمد دا خبره و نه منله.
شيخ قمي د نومړي حديث لپاره د اهل سنتو غټ غټ اسلامي کتابونه ياد کړل (۷) او محمد د شيخ قمي په مخکې چپ پاتې شو.
غوښتل يې د هغه په ښوولو مدارکو کې شک وکړي؛خو مجبور شو خبره واروي؛ نو د نيوکې په توګه يې وويل: که پيغمبر داسې فرمايلي وي، چې ما د خدای کتاب او خپله کورنۍ تاسې ته پرېښووه؛ نو د خدای د پيغمبر سنت کوم شول؟
شيخ قمي وويل: د رسول الله سنت له کتاب الله نه پرته دي؛ځکه د رسول سنت د خدای د کتاب شرح ده او له کتاب الله نه د رسول الله منظور په دغه حديث کې قرآن او سنت يې شرح ده. محمد وويل: ايا عترت د قرآن شرح نه ده؟ که پيغمبر عترت د دې لپاره پريښي وي، چې قرآن شرح کړي او بلخوا يې خپل سنت د قرآن د شرح په توګه پرېښي وي؛ نو د سنتو د شتنون په صورت کې عترت ته څه ضرورت دی؛ بلکې يوازې سنت د قرآن د شرحې له پلوه کافي دي.

Made with Xodo PDF Reader and Editor

شیخ قمي وويل: له دنيا نه د پیغمبر په تلو سره خلک یوه شارح ته اړ دي،چې قرآن د وخت له غوښتنو سره سم تشریح کړي او د خلکو اړتیاوې د قرآن له مخې ترسره کړي او دا کار تر پیغمبر وروسته عترت کولای شو؛نوځکه عترت یې له قرآن سره غبرگ کړ او دواړه یې خپل ځایناسیت کړل.
زه په دې بحث هک پک شوم او محمد بن عبدالوهاب مې د بوډا شیعه عالم په لاس کې د ښکاري په منگولو کې راگېره مرغۍ وگڼله، چې ځان نشي خوځولای.
لنډه دا چې ما خپله ورکه په محمد بن عبدالوهاب کې موندله البته د ده زړه ورتیا او د دین د لویانو پر وړاندې یې لوړ خیالي او داسې ازاده رایه،چې هغه د قرآن او سنتو له پوهې نه درلوده او په هېڅ یوه مذهبي لارښود ان په خپلو څلورگونو خلفاوو هم اړ نه و. زما لپاره په دې برخه کې غټه خبره وه،چې د ده له لارې د مسلمانانو په ټولنه کې خپل ماموریت ترسره کړم.
رښتیا چې د دې ځوان او په استانه کې د هغه سپین ږیري ترک ترمنځ ډېر فرق و. هغه د دین د لویانو پر وړاندې پر خپلو اعتقاداتو د غره غوندې کلک ولاړ و،چې هیڅا خوځولای نه شو. د ابوحنیفه نوم به یې چې اخیسته؛نو د حنفیتوب له امله به یې په اوداسه یادوه، چې کله به یې بخاري (د اهل سنتنو ستر کتاب) را اخیسته نو په اوداسه به یې را اخیسته؛ خو محمد بن عبدالوهاب به، چې د ابوحنیفه نوم اخیسته؛ نو په ډېر سپکاوي

Made with Xodo PDF Reader and Editor

او بې پروايي يې يادوه او ويل يې زه له ابوحنيفه نه ښه پوهېږم او دعوی يې کوله، چې نيمايي بخاري شريف باطل دی.

ما له محمد بن عبدالوهاب سره لار واخېسته او دا به مې ورته ويل چې تر عمر او علي زيات خدای ته ګران يې او کله به مې ورته ويل: که ته د پېغمبر په وخت کې وای؛ ته يې خپل خليفه کولې او همېشه به مې ورته ويل:غواړم خدای اسلام ستا په لاس نوی کړي او ته يوازنی نجات ښښونکی يې، چې اسلام له دغې انحطاط او ځوړتيا نه ژغورلای شې.

له محمد سره مې د خبرو تړون وکړ، چې د قرآن په باب د خپلې پوهې او فکر له مخې څېړنه وکړو؛نه د صحابه وو او د مذهب د پېروانو د پوهې په رڼا کې.

همېشه به مو په ګډه قرآن لوسته او په ځېنو ټکو کې به مو سره شخړه هم کوله ما غوښتل د دې پلان په پای کې محمد يوځای دوه ځايه پر ځان اوچت وښيم او هغه به زياتره په دې برخه کې زما د رايې له منلو نه ډډه کوله او د هغه د مقام د منلو په برخه کې به يې زما په ادعا لږ غور د دې لپاره کاوه، چې ځان يو ازاد او د مقام له مينې نه يو لرې سړی وښيي او زما باور او عقيدت لا پر ځان زيات کړي.

يوه ورځ مې ورته وويل: اوس جهاد فرض نه دی.ويل يې: ولې؟ خدای نه دي فرمايلی چې: جاهدالکفار، ما وويل: خدای فرمايلي دي چې: جاهد الکفار و المنافقين (توبه / ۷۳): د کفارو او منافقينو سره جهاد وکړئ،که دا آيت د جهاد په

Made with Xodo PDF Reader and Editor

فرضیت دلالت کوي؛نو پېغمبر ولې له منافقینو سره جهاد ونه کړ؟ پېغمبر خو له منافقینو سره په خوله اووینا وجنګېد؛نو له کافرو سره هم جهاد په وینا او منطق سره فرض دی. ویل یې:پېغمبر له کفارو سره محاربه کړې.ما وویل: له کفارو سره د پېغمبر جګړه د ځان د دفاع په وخت کې وه؛ځکه کفارو غوښتل هغه ووژني او پېغمبر یې دفع او دفاع وکړه.

بله ورځ مې ورته وویل: زه خو وایم چې متعه او موقته نکاح روا ده.

ویل: هیڅکله نه! ما وویل: خدای په قرآن کې فرمایلي چې: **فَمَا اسْتَمْتَعْتُم بِهِ مِنْهُنَّ فَآتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ** (نسا/۲٤) چې څرنګه مو له ښځو نه ګټه واخېسته بدل او مزدوري یې ورکړئ. دا آیت د موقتې نکاح په روا والي دلالت کوي؛ځکه که له یوې ښځې نه په ټاکلې موده کې جنسي استفاده وشوه او اجرت یې ورکړ شو؛ هیڅ پروا نه کوي.

محمد وویل: حضرت عمر متعه حرامه کړې او ویلي یې دي: دوه متعې وې، چې د پېغمبر(ص) په وخت کې حلالې وې؛ خو زه یې اوس حراموم او کونکي ته یې جزا ورکوم.(۸)

ماوویل: ته خو وایې چې زه له عمر نه پوه یم؛ نو څنګه د عمر پیروي کوې؟

محمد چوپ شو او همدا یې د تصدیق او قناعت نښه وه؛ځکه له دې کار سره یې بهرنۍ اغیزه هم وه. جنسي غریزه یې په څپو شوې وه او ښځه یې هم نه درلوده. ما ورته خبره وړاندې

Made with Xodo PDF Reader and Editor

کړه: څه کېږي زه او ته دواړه یوه ښځه په متعه واخلو او ولې له دې خونده بې برخې شو؟
محمد سر وخوځاوه، د رضایت موسکایې په شونډو خپره وه، چې زما تجویز یې ومانه. ما هم موقع غنیمت وګڼله او ژمنه مې ورسره وکړه چې متعه به ورته اخلم. زما ټول هدف له دې پلاره همدا و، چې له خلکو او عمومي افکارو سره د دده د نظر د مخالفت وېره او اندېښنه کمه کړم. هغه پر ما دا ومنله، چې خبره به د راز په توګه زما او د هغه ترمنځ پټه وي ان نوم به یې هم ښځې ته نه ښیم.
ما ځان له واره هغې مسیحي ښځې ته ورساوه، چې په بصره کې د بریتانیا د مستعمرو د وزارت له خوا د مسلمانانو د فاسدولو لپاره ګمارل شوې وه او په خبره مې وپوهوله او صفیه نوم مې ورته غوره کړ، او په ټاکلې ورځ مې د یوې مسلمانې ښځې په جامه بې ځنډه د محمد بن عبدالوهاب کور ته وروسته، کور تش و،ما له محمد سره ګډه متعه صیغه ولوسته.
محمد یوه هفته دغه ښځه صیغه کړه او څو روپۍ یې هم د مهر په توګه ورته وټاکلې. ما په دې یوه هفته کې صفیې ته لازم دستورونه ورکړي وو.هغه له دننه او زه له بهر نه د محمد بن عبدالوهاب په توجیه لګیاوم.
لنډه دا چې صفیې وکړای شول پخپلو نازونو د محمد زړه پوره تر لاسه کړي. د استبدادي،اجتهادي او د نظر د ازادۍ او د فکري سرغړونې په سیورې کې یې له دین او مذهب سره د

Made with Xodo PDF Reader and Editor

مخالفت خواږه پرې وځکل، صفیه درې ورځې د محمد په کور کې پاتې شوه، په دریمه ورځ زما او د محمد ترمنځ د شرابو د حراموالي خبره توده شوه. ما ورته وویل: شراب حرام نه دي، هغه به چې د شرابو د حرمت په باب په ایاتونو او حدیثونو هر څه استدلال کاوه، ما به رداوه،اخر مې ورته وویل: دا صحیح او ثابته ده، چې معاویه بن ابوسفیان،یزید او بني عباس خلیفه ګانو شراب څښکل ایا د دوی ټولو ته ګمراهان ویلای شو؟ او رښتیا وایي؟ په دې کې هم شک نه شته چې هغوی د خدای په کتاب او د رسول په سنتو پوهېدل؛خو د تحریم په ایاتونو کې نه پوهېدل؛بلکې هغوی داسې ایاتونه او احادیث ښه نه ګڼل او پردې سربېره تورات او انجیل هم شراب مباح ګڼل؛ دا څنګه کېدای شي، چې په یوه دین کې دې شراب حلال وي او په بل کې حرام؟ سره له دې، چې ټول دینونه د یوه خدای له لوري راغلي دي؟ او دا خو په حدیثو کې راغلي، چې د دې آیت((**فَهَلْ أَنتُم مُّنتَهُونَ**)) (مائده/۹۱) تر وخته حضرت عمر شراب څښکل (۹) او که شراب حرام وای؛ نو باید پیغمبر عمر رټلی وای، چې دغه نه رټل په خپله د شرابو د حلالوالي دلیل دی. زما خبرې ټکی په ټکی د محمد په زړه کې دومره کیناستې، چې زما د وینا په تائید کې یې وویل چې: په ځینې اخبار کې راغلي، چې حضرت عمر به شرابو کې لړې اوبه اچولې او څښکل یې او ویل چې نېشه

Made with Xodo PDF Reader and Editor

کوونکي او مسکر شراب حرام دي او چې سکر او نېشه یې ماته شوه؛ نو حلال دي.

بیا یې زیاته کړه؛لکه چې عمر دا ټکی له قرآن نه زده کړی و، چې فرمايي: مائده/ ۹۱) **إِنَّمَا يُرِيدُ الشَّيْطَانُ أَن يُوقِعَ بَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَاء فِي الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ وَيَصُدَّكُمْ عَن ذِكْرِ اللّهِ وَعَنِ الصَّلاَةِ** (شیطان غواړي چې په شرابخوري او جوارۍ په تاسې کې دښمني او کینه پیدا کړي او تاسې د خدای له یاده او لمانځه نه منع کړي)

نو که شراب مستي را نه ولي دغه کارونه (د خدای له یاد او لمانځه نه امتناع) نه کېږي؛نو چې شراب مسکر او نېشه کوونکی نه وي؛ حرام نه دي.

ما صفیه د شرابو په باب له خپلو خبرو نه خبره کړه او ورته مې وویل: نن شپه چې هر څنګه وي، لږ شراب پیدا کړه او ور یې کړه، صفیې هماغسې وکړل او سبا یې ما ته وویل، چې ښېګا مې خالص شراب په محمد وڅښل او دومره مست شو، چې اپلتې یې ویلې او تر سبا پورې مست و،سهار مې محمد کمزوری او بیسده ولید، نور نو ما او صفیې د هغه واګې پوره په لاس کې نیولې وې، پر هغه ورځ راته د مستعمرو د وزیر هغه قیمتي خبرې رایادېدې چې د خدای پامانۍ په وخت کې یې راته ویل: موږ اسپانیا له کفارو (مسلمانانو) نه یوازې په شرابو او ناوړه چارو بېرته تر لاسه کړه،هیله ده ټول هېوادونه په همدې دوو پیاوړو قواوو تر لاسه کړو.

Made with Xodo PDF Reader and Editor

بیا مې یوه ورځ له محمد سره د روژې په باب خبرې وکړې او ورته مې وویل: قرآن فرمايي: **وَأَن تَصُومُواْ خَيْرٌ لَّكُمْ** (بقره / ۱۸٤) که روژه ونیسئ درته ښه ده؛ خو قرآن دا نه دي ویلي چې دربانديې فرض ده (۱۰) نو روژه د اسلام له نظره مستحب ده، نه فرض. محمد څه فکري ټینګار وکړ او ویې ویل: لکه چې غواړي ما له دینه وباسې؟

ما ویل دا څه وايي؟ دین خو د زړه پاکي او د روح سپیڅلیتیا ده، نور لا څه وي؟ ولې پیغمبر نه دي ویلي چې: الدین الحب، دین مینه ده او قرآن هم فرمايلي دي: وَاعْبُدْ رَبَّكَ حَتَّى يَأْتِيَكَ الْيَقِينُ حجر /۹۹: او پروردګار دې تر هغه وخته ونمانځه چې یقین دې راشي؛ نو چې څه وخت پر خدای او د قیامت پر ورځ د انسان یقین راشي او زړه یې پاک شي، هغه غوره انسان دی.

خو محمد زما په دې خبرو سر په نفې وخوځاوه او تر خبرو لاندې مې نه شو. بله ورځ مې ورته وویل: لمونځ فرض نه دی.و یې یل: ولې؟ ما ویل؛ځکه چې خدای په قرآن کې فرمايي: وَأَقِمِ الصَّلَاةَ لِذِكْرِي (طه/١٤) لمونځ د خدای د یاد لپاره وکړه، نو له لمانځه نه د خدای یاد مراد دی، نو که چا ته خدای همېشه یاد وي؛ نو لمانځه ته څه ضرورت نه شته؟

محمد وویل: هو ما هم اورېدلي چې ځېنو علماوو د لمانځه په وخت د خدای ذکر کاوه،په دې خبره یې ډېر خوشحاله شوم او دا مې وګڼله، چې نور یې په عقل پوره سپور شوی یم،

Made with Xodo PDF Reader and Editor

تردې خبرو روسته مې محمد لیده،چې په لمانځه ډېر اړ نه دی، کله یې کړي او کله نه، خصوصا د سهار لمونځه یې زیاتره نه کاوه او چې کله به د شپې یو ځای وو او تر نیمې شپې به مو خبرې کولې؛ نو سهار به لمانځه ته د پاڅېدو نه و او نه به یې کاوه. لنډه دا چې په همدې ډول مې د محمد له اوږو نه د ایمان څادر راښکه. یوه ورځ مې وغوښته، چې د پېغمبر په باب یې زړه کې څه شک راپیدا کړم؛ خو سخت راته په غصه شو. و یې یل: که بیا دې داسې خبره وکړه؛ نو زما او ستا د دوستۍ به څه پاتې نه وي. زه د هغه له داسې تروې تندې سخت ووېرېدم، چې د رازونو غوټه مې پرانه نیستل شي. بیا مې ورسره د پېغمبر په باب څه خبره و نه کړه؛ خو دا مې پرې ومنله، چې له شیعه او سني نه پرته یوه دریمه لار پرانېځي او هغه هم دا د خپل غرور او خود خواهۍ له وجهې ومنله.
صفیې د محمد زړه بیخي وړی و او تر هغې هفتې وروسته به محمد همېشه څو څو ځل په صفیې پسې تله او متعه کوله یې؛ نو ما د صفیې له لارې چې د محمد یوه همېشنۍ معشوقه گرځېدلې وه، وکړای شول چې د هغه واگې بېخي په لاس کې واخلم او د هدف پر لور یې راکاږم.
یوه ورځ مې ورته وویل: دا رښتیا ده چې وایي پېغمبر په خپلو یارانو کې ورورولي ټینگه کړې وه؟ و یې یل: هو !
و یې یل: ایا د اسلام احکام یوازې د هغه وخت لپاره وو، که د همېشه لپاره دي؟

Made with Xodo PDF Reader and Editor

و يې يل: د همېشه لپاره د پلي کېدو وړ دي؛ځکه پېغمبر فرمايلي دي چې د محمد حلال تر قيامته حلال او حرام يې تر قيامته حرام دي.

ماوويل: خوښه دې نه ده، چې له همدې اوسه د وروري تړون وکړو؟

هغه راسره ومنله او تر هغې ورځې وروسته په هر ځای کې په سفر او حضر کې د ورور په توګه ورسره وم او دغه کرلی نيالګی مې همېشه خړوباوه او ميوې ته يې د تمې لپاره به مې د خپل کار او پلان شرح همېشه وزارت ته لېږله او په ځواب کې به يې د خپل دې کار د هڅونې او تشويق ځوابونه رالېږل. د هدف پر لور په چټکۍ روان وم او محمد مې له ځان سره بېوه او د لږې شېبې لپاره ترې هم نه بېلېدم. او غټ کار مې دا و، چې د ازادۍ غوښتنې روح پکې پياوړی کړم او د اسلام د اساساتو په باب يې مخالفت او ترديد نور هم زيات کړم او همېشه به مې ورته د يوې داسې روښانه راتلونکې چې تولنيز قيادت په لاس کې واخېستلای شي، زيری ورکاوه.

يوه ورځ مې ورته وويل: ما بېګا پېغمبر په خوب وليده؛ په هماغو خصوصياتو مې ورته پېغمبر توصيف کړ، چې له منبريانو (علماوو) او مذهبي مبليغنو نه مې اورېدلي وو، ګورم چې پېغمبر پر يوه تخت ناست دی، يو شمېر علما او پوهان، چې نه مې پېژندل، ورنه راتاو وو په دې کې ته رانوتې، وجود دې ځلېده، پېغمبر دې د درناوي لپاره پاڅېد او پر تندي يې

Made with Xodo PDF Reader and Editor

ښکل کړې او درته و یې فرمایل: محمده! ته زما همنومی، زما د علم وارث او ځایناستی یې. تا ویل: یا رسول الله! زه خلکو ته له قرآنه د خپلې اخېستې پوهې له څرګندولو وېرېږم. پېغمبر وفرمایل: مه وېرېږه ! ته تر ټولو اوچت او غوره یې.

دغه جوړ کړی خوب مې محمد ته ووایه،له خوشحالۍ نه نژدې الوتی و. بیا بیا به یې پوښتنه کوله،رښتیا وایې؟ ما ویل: هو همداسې مې ولیدل.

فکر کوم له هماغې ورځې نه محمد بن عبدالوهاب خپل مرام ښکاره کول وغوښتل.

Made with Xodo PDF Reader and Editor

پینځم یادداښت

په بصره کې د محمد بن عبدالوهاب د پلان جوړولو په وخت کې له لندن نه د یوې ابلاغیې په ترڅ کې موظف شوم، چې کربلا او نجف ته ولاړ شم. دغه دواړه ښارونه د نړۍ د شیعه ګانو د پام وړ او د روحانیت مرکزونه یې دي.

دا دواړه ښارونه یوه کیسه لري:

خو نجف یو داسې ښادر دی، چې د اهل سنتو له نظره د پیغمبر د ځلورم او د شیعه وو له نظره د لومړي خلیفه د ښخېدو له امله ودان شوی.د نجف په یوه فرسنګ کې کوفه یو ښار دی، چې د علي د حکومت مرکز و او چې څه وخت علي ووژل شو؛نو زامنو یې حسن او حسین له کوفې نه بهر وو، چې نجف ورته وایي، ښخ کړ. او له هماغې ورځې دا ځای لږ لږ ودان شو او چې څومره نجف ودان شو هغومره کوفه ورانېده.

په نجف کې یو شمېر علماء اوسي،هملته کورونه،مدرسې او دوکانونه او اوس د شیعه علماوو مرکز نجف دی. په استانه کې عثماني حکومت د نجف له علمیه حوزې نه وېرېږي او د هغوی پر وړاندې تواضع او درناوی کوي او دا له څو پلو:

۱ ـ یو خو دا چې د ایران دولت شیعه دی او تقریبا د همدوی په لاس کې دی او که عثماني دولت یې پر وړاندې ډېر لږ سپکاوی او ناغېړي وکړي؛ د ایران او عثمانیانو ترمنځ فضا پرې خړ پړېږي؛ نو د نجف د علماوو په ډېر لږ سپکاوي هم د دواړو هېوادو ترمنځ د جګړې اور بلوي.

Made with Xodo PDF Reader and Editor

۲ _ د نجف په شاوخوا کې زيات داسې قبايل اوسي، چې د نجف د تقليدي مراجعو او مذهبي مشرانو په حکم چلېږي او دغه قبايل ټول په وسله سمبال دي. که څه هم وسله يې منظمه او زوروره نه ده؛ خو بيا هم دوی په خپله د دولت پر وړاندې د اخ و ډب په وخت کې يو پياوړی ځواک دی.
۳ _ دا علما په ايران،هند افريقا او عربي هېوادو کې د ټولو شيعه ګانو مراجعه او ديني مشران ګڼل کېږي او که دولت يې پر وړاندې لږ سپکاوی هم وکړي؛شيعه ګان به پرې له هرې لوري رامات شي.
خو د کربلا کيسه: کربلا د علي او فاطمې د زامنو او د پېغمبر د لسمو حسن او حسين تر وژلو وروسته جوړ شوی ښار دی. د عراق خلکو حسين راوغوښت، چې له حجاز او مدينې نه راشي، چې خليفه يې کړي،هغه چې دا بلنه ومنله او کورنی يې د کوفې په دولس فرسنګو کې پرتې کربلا ته ورسېدله؛نو کوفيان ترې ستانه شول او په شام کې د اموي واکمن يزيد بن معاويه په امر د حسين پر خلاف لښکر راولېږل شو، حسين او توريالي ملګری يې ورسره په نره تر مرګه وجنګېدل.
اموي لښکرو په دغه جګړ کې له ډېرې سخت زړی او زياتي نه کار واخېست. تر هغې وروسته د نړی شيعه ګانو د غه ښار او د حسين مدفن خپل ستر روحي او معنوي مرکز وګرځاوه او له هر لوري به د زيارت لپاره پرې داسې را مات وو، چې موږ يې په مسيحيت کې ساری نه لرو.

Made with Xodo PDF Reader and Editor

د کربلا دغه ښار هم ډېرې مدرسې لري او یو شمېر شیعه علما هم دلته اوسي او د کربلا او نجف علما سره یو د بل ملاتړ او د ګډ هدف خاوندان دي او دغه دواړه ځایونه د شیعه ګانو لپاره یو نړیوال علمي مرکز ګڼل کېږي.

زه د خپل ماموریت په لړ کې له بصرې نه بغداد ته ولاړم، بغداد د عراق د حکومت لپاره د عثماني دولت له خوا د مقرر شوي واکمن مرکز و، له هغه ځایه ((حلی)) ته ولاړم، حله د فرات سیند پر غاه پروت ښار دی.

فرات او دجله دواړه داسې ستر رودونه دي، چې د ترکیې په غرونو کې یې سرچینه ده،د عراق له ځیګړه وځي او سیند ته لوېږي. د عراق د خلکو کر کرونده او سوکالي په همدغو دوو نهرونو پورې تړلې ده.

زه چې لندن ته ستون شوم؛نو د مستعمراتو وزارت مې پوه کړ چې د دغو دواړو نهرونو د سرچینو د خپلولو لپاره یوه نقشه جوړه کړي،؛ ځکه دا د عراق د نیولو لپاره یو ډېر ستر پلان دی.

له حلی نه نجف ته د یو اذربایجاني سوداګر په جامه کې ولاړم، د نجف له علماوو او دیني ټولیو سره مې مینه او راشه درشه پیل کړه. درسي غونډو ته به یې ورتلم،د هغوی سختې تقوی،پاکلمنی، روحي سپیڅلتیا او د علم او پوهې فطري توب ته حیران وم؛ خو پوه شوم، چې د زماني غوښتنې یې له پامه

Made with Xodo PDF Reader and Editor

غورځولې دي او د خپلې وضع د بدلون په باب څه فکر نه کوي،څو خواوې مې يې وکتې:
۱ ـ د عثماني دولت سخت دښمنان وو او هغه هم له دوو خواوو: يو دا چې دولت سني و او دوی شيعه. بله دا چې عثماني دولت پرې داسې زور راوستی و، چې د دوی د ازادۍ مخنيوی يې کاوه ان دومره اجازه يې نه ورکوله چې خپل زور او قوت ته ځير شي او له دغې تنگسې نه ځان وباسي.
۲ ـ د دوی ټول زور او انرجي بس په ديني علومو کې لگېده او مادي علوم يې بيخي شاته کړي وو.
۳ ـ د نړۍ په سياسي چارو کې يې فکر نه کاوه او په دې خبر نه وو، چې شاو خوا ته يې څه تېرېږي.
ما به له ځان سره وويل: دا خواران څومره په غفلت کې دي او نړۍ څومره ويښه ده.
زه همېشه په دې لټه کې وم، چې د نجف علما د عثماني دولت پر خلاف راوپاروم؛خو هغوی راته غوږ نه ايښوده او ځېنو به راباندې ملنډې وهلې؛لکه ما چې پرې دنيا ړنگوله،هغوی ته عثماني حکومت داسې ښکارېده؛لکه يو نه خوځول کېدونکی د غځېدلو جرړو قوت، چې يوازې د امام مهدي پاڅون يې خوځولای او نړولای شي.
د شيعه گانو په نزد امام زمان د پېغمبر يو لمسی او دولسم امام دی، چې د اسلامي حکومت تر رامنځته کېدو (۲۵۵) کاله وروسته پټ شو او تر ننه هم ژوندی دی؛خو ورک او په يوې

Made with Xodo PDF Reader and Editor

خاصې راتلونکې کې راڅرګندېږي او پر نړۍ به عدل او انصاف خپور کړي؛خو له ظلم او زیاتې نه تر ډکېدو وروسته.
ما یوه ته وویل: ایا د پېغمبر په څېر پر تاسې فرض نه ده، چې له ظلم او تېري سره مبارزه وکړئ؟
و یې یل: هغه خو پېغمبر و او خدای ورسره غیبي مرسته کوله.
ما وویل: تاسې هم پاڅئ، له تاسې سره به غیبي مرسته وکړي.
قرآن نه وایي چې: ان تنصروالله ینصرکم. او که د خدای مرسته مو وکړه، خدای ستاسې مرسته کوي.
ځواب یې راکړ:: ته سوداګر سړی یې، په دې خبرو دې سر نه خلاصېږي.
د علي قبر یې هر راز ښکلی کړی دی، یو ښکلی حرم،چې له پاسه پرې د سرو زورو ګومبزه ځلېږي او د سرو زور دوه منارې لري،چې شیعه ګان یې ورځ تر ورځ نوره هم ښکلی کوي او په ګډه پکې لمونځ کوي او له قبره یې راتاوې پنجرې ښکلوي،پر امام سلام اچوي او د ورننوتو په وخت کې اجازه غواړي،د حرم شاو خوا یو لوی غولی دی، چې ډېری وړې وړې کوټې پکې دي او زیارت کوونکی او طالبان پکې اوسي.
په کربلا کې د نجف د حرم په څېر دوه حرمه دي،یو د حسین او بل یې د ورور عباس دی، چې په کربلا کې ورسره ووژل شو. شیعه ګان د کربلا په دې حرم کې هم هماغه څه کوي، چې د علي په حرم کې یې کول. کربلا د اوبو او هوا له پلوه تر

Made with Xodo PDF Reader and Editor

نجفه ښه ده او د ښار شاوخوا باغونو او روانو اوبو را ایساره کړې ده.

په دې مسافرت کې، چې عراق پلو ته ولاړم،خواشینونکې وضع مې ولیده،د استانې له خوا دلته مقرر واکمن او والي یو ظالم او ناپوه سړی و، څه یې چې زړه غوښتل، هغسې امر یې کاوه؛ لکه خلک یې چې مینځې او مریان وي، ملت ترې ټول خپه و.

خو شیعه ګان ترې؛ځکه خپه وو، چې حکومت یې د ازادیو مخه نیولې وه او په سخت خپګان کې یې راګیر کړي وو او سنیان ترې په دې خپه وو،چې هغوی اصلي عرب وو او دا یې نه منله، چې له خپلو لویانو او مخورو پرته دې د یوه ترک سړي حکومت پر ځان ومني.

ښارونه وران،خلکو د ښارونو په ناولتیاوو او میکروبي سیمو کې ژوند کاوه،لارې بد امنه،په لارو کې به کاروانونه وهل کېدل،زیاتره کاروانیان به د وسله والو ساتندویانو او څارندویانو په ملګرتیا تلل.

د قبایلو ترمنځ سختې شخړې او دښمنۍ وې،داسې ورځ به نه وه، چې یوې قبیلې به پر بلې نه بلو سل او مرګ ژوبله به پکې نه کېده.

ناپوهي او بې سوادي هم په حیرانوونکې توګه په خلکو کې خپره وه. د ناپوهۍ او بې سوادۍ وضع یې ماته زموږ پر هېواد د یهودو د تسلط وخت یادوه.

Made with Xodo PDF Reader and Editor

په کربلا او نجف کې له طالبانو او مذهبي شخصیتونو او یو کم شمېر هغو کسانو،چې په دوی پورې یې اړه درلوده،په زور کې له یو لیکونکي او لوستونکي پرته نور څوک نه پیدا کېده.
زه څلور میاشتې په نجف او کربلا کې پاتې شوم. په نجف کې دومره ناروغه شوم،چې له ژوند مې تمه پرې شوه. د غړیو سستوالی مې تر هفتو اوږد شو.یوه طبیب ته ورغلم، د هغه په درملو مې یو څه ښېګڼه وشوه. رنځوري راباندې په دوبي کې راغله، اوړی ډېر ګرم و، د رنځورۍ شپې مې په زیرزمېن کې،چې سرداب یې ورته وایه تېرې کړې، د کاله له خاونده مې په کرایه اخېستې وه، هغه مې د تمې له امله پالنه او ساتنه کوله، خواړه او درمل یې راوړل او راته ویل یې دا هر څه درسره خدای جهتي کوم؛ځکه ته د امیرالمومنین زایر یې.
د ناروغۍ په لومړیو شپو کې مې خواړه خالي ښوروا وه. بیا راته طبیب لږه غوښه هم وښووه او د رنځورۍ په اخر کې د چرګ له غوښې سره وریجې راته وښودې. له رنځورۍ نه چې ښه شوم؛ له نجف نه بغداد ته ولاړم.د نجف،کربلا،حلی او بغداد له مشاهداتو مې یو سل مخیز راپور تیار کړ او په بغداد کې مې د مستعمراتو د وزارت نماینده ته وسپاره او په خپله د وزارت حکم ته سترګې په لار شوم، چې په عراق کې پاتې شم او که لندن ته ولاړ شم ؟؛ خو لندن ته د تګ ډېر تږی وم؛ځکه مسافري مې ډېره اوږده شوې وه او په وطن،ښځې او زوی پسې مې زړه ډېر خپه و، خصوصا د دې لېوال وم، چې هغه

Made with Xodo PDF Reader and Editor

یوازني زوی مې (سبوتین)، چې زه یې لا نه وم لیدلی، ژر ووینم؛ نو په یوه بله پاڼه کې مې له وزارت نه د رخصتۍ اجازه وغوښته، چې کور ته ولاړ شم؛ځکه په عراق کې مې د سفر درې کلنه موده تېره کړې وه. په بغداد کې د مستعمراتو د وزارت نماینده راته وویل: همدلته پاتې شه او بغداد ته د ځواب تر راتګه ونه وځې. ما هم د دجلې رود پر غاړه په یوه هوټل کې کوټه واخېسته، چې راباندې بدګومانه نشي.
په بغداد کې د استوګنې په موده کې مې په دې غور کاوه، چې د دې ښار د اوضاع او د عثماني هېواد د پایتخت ترمنځ څومره توپیر دی.
ترکان دا غواړي، چې عراق وځپي؛ځکه عراقیان عرب دي او حکومت د دوی له شره امان نه دی.له هغې ورځې چې له بصرې نه راوتلی وم، د محمد بن عبدالوهاب په باب ډېر اندېښمن وم او پرې وېرېدم، چې هغه زما ورښوولې لار پرې نه ږدي؛ځکه هغه ډېر رنګین مزاجی او قهرجن و،وضع یې ژر بدلېده او زه ترې همېشه په وېره کې وم، چې د محمد بن عبدالوهاب په لړ بدلون سره زما ټولې خوارې اوبه یو نه سي.
زه چې ترې رابېلېدم، هغه غوښتل، چې عثماني مرکز استانې ته ولاړ شي؛خو ما منع کړ او ورته مې وویل: هلته حالات دومره تنګ دي، چې کېدای شي تا د خپلو عقایدو د خرګندولو په وخت کافر کړي او و دې وژني، هغه ته ما هسې دا خبره وکړه؛خو ډېره وېره مې له دې وه، چې له ځېنو داسې علماوو

Made with Xodo PDF Reader and Editor

سره مخ نشي، چې له خپل کرلیچ او بېلاری نه یې وا نه وړي او د اهل سنتو په لار یې سیخ نه کړي او زما ټولې هڅې خاورې نشي.
لنډه دا چې پوه شوم محمد په بصره کې پاتې کېدل نه غواړي؛ ورته مې وویل: اصفهان او شیراز ته ولاړ شه؛ځکه دا دواړه ښکلي او ودان ښارونه دي. خلک یې شیعه ګان دي او دا ډېره لرې وه، چې شیعه ګان پر محمد اثر پرې باسي؛ له دې امله خو یې زه له ورښوولې لارې نه په نه لرې وتو ډاډه وم.
څه وخت چې زه له محمد نه رابېلېدم؛ ورته مې وویل: ته پر تقیه ایمان نه لرې؟ ویې ویل: هو د پېغمبر یو صحابي و، فکر کوم محمد به مقداد ګڼلی وي، څه وخت چې د مشرکینو په لاسو کې و او مور و پلار یې ورته ووژل؛هغه تقیه وکړه او د خپل نجات لپاره یې د خپل مشرکوالي اظهار وکړ. ورته مې وویل: که هلته ولاړې؛ نو له شیعه ګانو نه تقیه وکړه.
او ورته مه وایه چې اهل سنت یې، چې له کړاو سره مخ نشې او د هغه ښار له ښکلې هوا او اوبونه استفاده وکړه، د خدای پامانۍ په وخت مې محمد ته یو موټی پیسې د زکاة او د سفر خرڅ په نامه ورکړې (زکاة یو ډول مالیه ده، چې مسلمانان یې د اسلام او مسلمانانو د ګټې لپاره ورکوي) او یو څاروې مې ورته د سپرلۍ لپاره واخېست او ورومې ښښه او ترې رابېل شوم.
له هغه وخت راهیسې بیا پوه نه شوم، چې محمد چېرته ولاړ او څه شو؟ یو له بل سره مو تړون کړی و، چې که له مور دواړو نه

Made with Xodo PDF Reader and Editor

هر یو بصرې ته راغی او هلته یې پاتې کېدل نه غوښتل او خپل دوست یې و نه کوت؛ نو عبدالرضا نجار ته دې لیک وسپاري او په هغه لیک کې دې ولیکي چې چېرته ځي،چې ملګری یې ترې خبر اوسي.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



په بغداد کې تر یو څه انتظار وروسته را ته د وزارت خبر راغی او زه یې لندن ته وغوښتم،له واره لندن ته روان شوم او وزارت ته له ورتګ سره مې سکرتر او د وزارت ځینې نور غړي وکتل او خپل درې کلن مشاهدات او پلانونه مې ورته وړاندې کړل. زما د فعالیت له طرز نه ډېر خوشحال شول، د خپل کار د پلان تفصیل مې ورته رالېږلي وو او د محمد بن عبدالوهاب معشوقې صفیې هم ځینی داسې راپورونه رالېږلي وو چې زما پلانونه یې تاییدول.

موږ چې وزارت ماموریت ته لېږلو؛ د ماموریت په سیمه کې یې ځینې نور کسان هم په موږ پسې اچول او زما څارونکیو، چې په دغه سفر کې زما د کار په باب کوم راپورونه ورکړي؛ ټول قانع کوونکي وو.

سکرتر زما له راتګه وزیر خبر کړ او له وزیر نه یې راته وخت واخیست، له وزیر سره مې په خاص دفتر کې وکتل،زما یې زښت زیات احترام وکړ او ډېر لور یې راباندې وکړ دا ځل راسره د استاني له سفر نه د راستنېدو په پرتله د وزیر چلند ډېر زیات توپیر درلود او داسې یې راته وښووه، چې ما یې په زړه کې ځای نیولی دی په دې چې د محمد بن عبدالوهاب غوندې یو څوک مې پیدا کړی، ډېر زیات خوشحاله شو.

ویې ویل: وزارت په همداسې ورکی پسې ګرځېده او ټینګار یې وکړ چې له لاسه یې ور نه کړي او هر څنګه، چې غواړې د

Made with Xodo PDF Reader and Editor

کار تړون ورسره کلک کړه او که په دغو ټولو زغملو کړاوونو کې دې سړی له تر لاسه کولو پرته نور څه لاس ته هم رانه وړل، بیا هم ارزښت لري.

ما ورته وویل: اوس اندېښمن یم، چې د محمد پای به څه شي؟

وزیر وویل: ډاډه اوسه هغه اوس هم پر هماغه لار روان دی، چې تا ورښوولې ده. زموږ ماموریتو ورسره په اصفهان کې کتلي او وزارت ته یې راپور رالېږلی، چې هغه پر خپله لار روان دی.

ما له ځان سره وویل: محمد څنګه رازونه نورو ته هم ویلي دي؛ خو د وزیر له وېرې مې ترې پوښتنه و نه کړای شوه؛ خو وروسته چې له محمد سره مخ شوم؛ راته یې وویل: زه په اصفهان کې له عبدالکریم نومي یوه سړی سره مخ شوم او راته یې وویل: زه ستا د ورور محمد "۱۱" ملګری یم، چې په بصره کې یې له تا سره د دوستۍ تړون کړی و. او له همدې لارې هغه عبدالکریم هم، چې د وزارت یو کارمند و، د محمد اسرار تر لاسه کړای شو، محمد بن عبدالوهاب وویل، چې صفیه په اصفهان کې هم راسره مخ شوه او دوه میاشتې صیغه مې ورسره وکړه او بیا له اصفهان نه شیراز ته ولاړم. عبدالکریم مې هم ملګری و، په شیراز کې راته عبدالکریم یوه اسیه نومې هم متعه کړه اسیه تر صفیې ډېره ښکلې وه، څه موده مې له هغې سره په شیراز کې تېره کړه او وروسته څرګنده شوه، چې عبدالکریم د

Made with Xodo PDF Reader and Editor

جلفا له مسیحیانو ځینې د یوه مسیحي مستعار نوم دی،چې د وزارت یو کارمند دی او اسیه هم په شیراز کې د مستعمرو د وزارت د یوې مستخدمې نوم دی.

لنډه دا چې پرمحمد بن عبدالوهاب زموږ د څلورو واړو تسلط، هغه د وزارت د اصلي هدف د عملي کولو لپاره ښه پوره تیار کړی و.

وزیر، سکرتر او نورو دوو کسو ته چې نالیدلې وو، د کار او احوال تر وړاندې کولو وروسته راته وزیر وویل: ته په خپل دغه فعالیت سره په وزارت کې یوه ستر منصب ته ورسېدې او په خپلو ملګرو کې د لومړي مقام څښتن یې او زیاته یې کړه: سکرتر ته مې حکم کړی،چې د دولت ځینې هغه اسرار چې ستا د پلان په عملي کولو کې موثر دي درته وسپاري،بیا یې راته لس ورځې رخصتي راکړه، چې له خپلې ښځې او بچي سره اوسم.

له وزارت نه راووتم او کور ته ولاړم، د خپل کمکي زوی په لیدو (چې ما ته ورته و او ایله یې خبرې ماتولای شوې) ډېر خوشحاله شوم،هغه به چې پل اخیسته،ما به ویل، چې زما د ځیګر ټوټه زما په مخکې ګرځي، زما د ژوند خوږې شیبې همدغه لس ورځې وې، چې له ښځې او بچي سره مې تېرې کړې، په دغو سو ورځو کې خپله هغه بوډۍ ترور (د پلا رخور) مې هم ولیده، چې د عمر وروستۍ شپې یې شمېرلې.

په دې څو ورځو کې راته د هغې لیدل ډېر ارزښتمن وو؛ځکه

Made with Xodo PDF Reader and Editor

هغه زما دریم ماموریت ته تر تگ وروسته له دنیا تللې وه او د هغې مرگ زما په روح ماتم گډ کړه.

لس ورځې دومره ژر تېرې شوې؛ لکه یوه ورځ، وایې چې ښه ساعت ژر تېرېږي، د تریخ غوندې خوند چې یو سات یې د پېړیو په شان تېرېږي، دلته مې په نجف کې د ناروغۍ شپې رایادې شوې،چې یوه ورځ یې راباندې دکال هومره تېرېده او تریخ خوند مې یې اوس هم په خوله کې دی،چې د ژوندانه خوږو او خوښیو هغه ترخه لاندې نه کړل.

لس ورځې وروسته وزارت ته ورغلم، سکرتر راسره دروند روغبړ وکړ. لاس یې راته دومره په مینه کیمانډه چې وروري یې ترې احساسېده، راته یې وویل: وزیر په خپله ما ته حکم کړی، چې دوه ستر دولتي رازونه دروسپارم. په راتلونکې دې د پلانونو په عملي کولو کې گټورېدا ی شي او دا ومنه، چې دا دوه رازونه په هېواد کې له ډېرو لږو باوري خلکو پرته بل چاته معلوم نه دي. بیا یې له لاسه ونیولم او د وزارت یوې کوټې ته یې ننه ایستم، چې عجیبه ننداره مې پکې ولیده:

په کوټه کې شاو خوالس کسه ناست وو، یو پکې عثمان سلطان و، چې هم یې ترکي خبرې کولې او هم په انگلیسي،دویم استانه کې د سنیانو د شیخ الاسلام په جامه کې، دریم د ایران پاچا، څلورم د شیعه عالم په بڼه، دغو دواړو په فارسي او انگلیسي خبر کولې او د هر یو څنگ ته یو منشي او یو کاتب ناست و.

Made with Xodo PDF Reader and Editor

دا څلور کسه په دغو څېرو هغه څوک وو، چې په دغو مختلفو هېوادو کې د وزارت د جاسوسانو او کارمندانو هغه راپورونه، چې راغونډېدل او په دوی پورې مربوط وو دوی ته راتلل.
له دغو څلورو ځېنې هر یو یې د وزارت د هغو معلوماتو یوه مجموعه ده، چې تردې وخته راغونډ شوي وو.
سکرتر راته وویل: دا د اصلي اشخاصو د څېرو مثالونه دي، چې موږ کټ مټ د هغوی په څېر جوړ کړي دي،چې په دې وپوهېږو هغوی څه رنګ فکر کوي،پوهه او سیاست یې په کومه سویه دی؟ ویې ویل: که غواړې ازمېښت پرې وکړه.
فرض کړه اوس له یوه شیعه عالم سره مخ شوې، هر څه چې غواړې، له دې سړي نه، چې د هغه په څېره دی، پوښتنه وکړه، ما وویل: ډېره ښه ده، د شیعه عالم مثال ته مې وویل:
محترما! موږ ته له عثماني حکومت سره جګړه جایزه ده ځکه دا یو متعصب سني حکومت دی؟
مثال ځواب راکړ: د سني توب له وجهې له حکومت سره جګړه جایزه نه ده؛ځکه مسلمانان ټول سره ورونه دي.موږ باید یوازې له دې امله حکومت سره مبارزه وکړو، چې د اسلام او مسلمانانو حقوق او حدود یې لتاړلي او د مسلمان ملت او امت چارې تر پښو لاندې کوي. موږ باید ورسره د دې لپاره مبارزه وکړو، چې له جنایاتو او ناوړه کارونه لاس واخلي او چې څه وخت یې له دغه جنایته لاس واخېست، موږ ورسره هم مبارزه پرېږدو.

Made with Xodo PDF Reader and Editor

ما وویل: محترما! یهود او نصاری پلیت دي؟ که نه؟ و یې یل: هو دوی نجس دي او ځان ساتل ترې واجب دي.

ما وویل: ښاغلیه! نظافت د ایمان جز نه دی؟

که وي؛ نو لارې د جوماتونو غولي او مدرسې ولی دومره ناولې دي؟

ویې ویل: څه وکړو اوبه کمې دي او حکومت هم د عامې روغتیا څه خیال نه ساتی.

عجیبه ! دغه ټولې مسئلې په نجف کې ما له یوه شیعه عالم نه وپوښتلې او هغه کټ مټ همدا ځوابونه راکړل؛ البته دې بدل عالم یوه جمله زیاته او هغه دا چې: حکومت د عامې روغتیا څه خیال نه ساتي، دا جمله په نجف کې هغه اصلي عالم ونه ویله. دې بدل (مثال) به داسې فارسې خبرې کولې؛ لکه په نجف کې چې شیعه علماوو کولې.

سکرتر وویل: که له دې نورو درېو سره هم خبرې وکړې؛ دوی به هم درته له اصله سره کټ مټ یو شان ښکاره شي.که اصلي خلک دې یې لیدلي وي، دوی ازمیبلای شې.

ما وویل: د شیخ الاسلام له فکري طرز سره بلد یم؛ځکه په استانه کې استاذ (شیخ احمد افندم) د هغه د خولې خبرې کولې.

سکرتر وویل: ډېره ښه ده مهرباني وکړه.

زه د شیخ الاسلام له بدل او مثال سره کېناستم، ما وویل: محترم افندم: ایا د سلطان اطاعت واجب دی؟

Made with Xodo PDF Reader and Editor

ويې يل: هو زويه! د سلطان اطاعت د خداى او رسول غوندې واجب دى.

ما وويل: ولې؟ ويل: دا آيت دې نه دى اورېدلاى چې خداى فرمايي (اطيعوا الله وا طيعوا الرسول و اولى ا لامر منكم) (نساء/۵۹) د خداى د خداى د رسول او واكمن اطاعت وكړئ.

ما وويل: كه د هر سلطان،واكمن او اولى الامر اطاعت د خداى له لوري واجب وي؛ نو خداى څنگه خلكو ته د يزيد بن معاويه په څېر د فاسقو او جنايتگرو د اطاعت حكم كوي، چې د پېغمبر لمسى وژني، د مدينې خلک له يوې مخې وژني او د جرارش لښكر د مسلمانانو پر ناموس تېري كوي او خداى داسې حكم فرمايي چې د وليد بن عبدالمالک په څېر فاسق او شرابي سړي اطاعت وكړئ؟

ويې يل: زويه! يزيد د پېغمبر خليفه او د وخت اميرالمومنين و، د حسين په وژلو كې ترې سهوه وشوه او بيا يې توبه واېسته او پاتې شوه د مدينې د خلكو وژنه، د مدينې اوسېدونكي خو د دغه راز وژنې مستحق وو؛ځكه د وخت د حكومت پر خلاف راپاڅېدلي وو؛ نو يزيد بايد وژلي او ټكولي واى. د وليد شرابخوري خو څكه څه خبره نه وه، چې هغه له شرابو سره اوبه گډولې او بيا يې څښكل. دا په اسلام كې جايز دي.

ما له شيخ افندم نه هم دا پوښتنه كړې وه او هغه هم په لږ اختلاف سره همدا ځواب راكړى و.

Made with Xodo PDF Reader and Editor

ما سکرتر ته وویل: د دې مثالونو او بدلونو ګټه څه ده، چې دلته موتیار کړي دي؟ ویې ویل: دا بدلونه د مسلمانانو د سیاسي او دیني شخصیتونو د سیاسي فکر نماینده او ښکارندوی دی. که موږ له یوه لښکر سره مخامخېدل وغواړو او د دښمن پر لور د مخنیوي لپاره لښکر ولېږو؛ لومړی باید د دښمن د پوځونو تګلوری ښه ځانته معلوم کړو. موږ باید د مسلمانانو سیاسي طرز او د سیاسي شخصیتونو د فکر سطح وپېژنو، چې د هغوی د سیاسي نقشو پر وړاندې نقشه تیاره کړو او سیاسي فعایتونه یې شنډ کړو او د هېواد په سیاسي او اداري چارو کې یې درز پیدا کړو او باید د مذهبي شخصیتونو د استدلال په طرز او د فکر په سطح وپوهېږو،چې د استدلالونو د رد لپاره ځوابونه برابر کړو، چې په دې توګه د مسلمانانو په ماغزو کې د دغو شکونو په ځایولو سره د هغوی عقیدې زیانمنې کړو.

بیا سکرتر ما ته زرمخیز کتاب راکړ، چې پکې د مسلمانانو د ازادۍ او استقلال د بنسټ د نړولو، کمزوریو او مختلفو نقشو په باب اټکلونه وو،چې د مسلمانانو سیاسي او مذهبي مقاماتو سره د مستعمرو وزارت د کارمندانو او جاسوسانو د چلند په باب د مختلفو راپرونو نتیجه وه.

کتاب مې له ځان سره کور ته یووړ او په اوږده کړې درې هفته ای رخصتۍ کې مې ولوست او د سکرتر په وینا مې بېرته وزارت ته وسپاره، د کتاب د لوستو په وخت کې د مسلمانانو د

Made with Xodo PDF Reader and Editor

اوضاع په باب د وزارت په څېړنو او تدقیق حیران وم او په سلو کې اویا پکې هغه څه لیکل شوي وو، چې ما په خپلو سترګو د مسلمانانو په غونډه کې لیدلي وو او د دولت د سیاسي نقشو او اټکلونو په باب مې ډاډ نور هم زیات شو او ډاډه شوم؛ لکه په دې کتاب کې، چې اټکل شوي، عثماني امپراتوري به له پېړۍ نه په کم وخت کې رانسکوره شي.

سکرتر وویل: د وزارت د ماڼۍ په نورو کوټو کې د نورو مستعمرو او مستعمرو کېدونکیو هېوادو مربوط بدلونه او مثالونه دي.

ما سکرتر ته وویل: له اصل سره دا ښېخي سم مثالونه او بدلونه څنګ جوړوئ؟ ویې ویل: په ټولو ښارونو او هېوادو کې زموږ کارمندان په مختلفو چارو کې راز راز راپورونه رالېږي، مربوط راپورونه خپلو خپلو بدلونو او مثالو ته وړاندې کېږي، دغه بدلونه او مثالونه د هغه اصلي مقام د فکري او سیاسي چارو د پېژندو مختصصان دي.

د مثال په ډول:د عثمان پاچا مثال د عثماني سلطان پر افکارو او سیاسي چارو داسې سپور دی او په دې برخه کې دومره متخصص دی، چې د هغه ډېر نژدې دوستان به یې هم دومره نه وي.

ښکاره خبره ده،چې د یو چا د تفکر او سیاست په باب درته پوره اطلاعات تر لاسه شول او شپه او ورځ درته د هغه چا د افکارو په باب اطلاعات در رسي،چې تاسې یې په باره کې

Made with Xodo PDF Reader and Editor

اندېښمن وئ،ستاسې د فکر او نتيجې اخېستنې هرومرو د هغه په څېر کېږي؛ نو څکه خو بيا نقل يا بدل له اصله سره سم وي.
سکرتر وويل: دا له هغو دوو رازونو څېنې لومړی راز دی، چې وزير يې ماته ستا ته د درسپارلو امر کړی و؛ خو دوهم راز به درته يوه مياشت وروسته درسپارم،چې دغه کتاب (هماغه زرمخيز کتاب) په غور ا و ژورتيا ولولې، ما کتاب ښه په غور ولوست او د محمد يانو په باب راته تازه ټکی رابرسېره شول او ورسره مې د هغوی د انحطاط او څوړتيا وجهې تر لاسه کړې او د مسلمانانو د کمزورۍ ټکي مې همداسې وپېژندل؛لکه د قوت او پياوړتيا عوامل يې، چې راته روښانه شول او په دې هم پوه شوم، چې د دوی پياوړي خصوصيتونه او د پياوړتيا عوامل څنگه له منځه وړل کېدای او په کمزورۍ بدليدای شي؟
له کتاب نه د دوی د کمزوۍ رايستلي ټکي دادي:
۱ _ د شيعه او سني ترمنځ اختلاف،د ملتونو او دولتونو ترمنځ اختلاف،د ايران او عثماني دولت اختلاف، د قبائلو ترمنځ اختلاف، او د علماوو او دولت ترمنځ اختلاف.
۲ _ ناپوهی او بيسوادی چې له کم شمېر پرته پرې ټول مسلمانان اخته دي.
۳ _ آخرت ته د مذهبيانو خاصه توجه او د دنيا او دنيوي ژوندانه په باب ناغېزې او پانامی.
٤ _ د اسلامي دولتونو استبداد او ديکتاتوري.
٥ _ د لارو بد امني او د ډله يزو ارتباطي وسايلو نشتوالی.

Made with Xodo PDF Reader and Editor

٦ _ د عامې روغتیا نشتوالی، مسلمان میشتي ښارونه همېشه د وبا او طاعون له میکروبونو ډک وي.
٧_ د ښارونوویجاړتیا او د ځمکو شاړېدل، د ویالو او نهرونو تپېدل او د کروندی نیمګړتیا.
٨ _ د مسلمانو هېوادو د چارو په اداره کې داسې د رائ استبداد او ملوک الطوایفي، چې نه پکې قانون او نظم ته ضرورت پاتې دی او نه مقیاس او میزان ته.
هرڅوک د هرې ادارې او موسسې په سر کې خپلواک،خپلسری او خپل رایه دي، چې هر څه وغواړي، هغه کو ي، البته په ښکاره د قرآن درناوی کوي؛ خو قرآن یې له نظره قانوني ارزښت له لاسه ورکړی دی.
٩ _ سخته اقتصادي کمزوري،فقر په ټولو ښارونو اوکورنیو کې خپور دی.
١٠_ د منظم پوځ او مجهزو جنګي وسایلو نتشوالی او زړو او له کاره لویدلو وسلو شتوالی.
١١ _ ښځې کم ګڼل او د هغوی د حقوقو لتاړل.
١٢ _ زیاتې ناولتیاوې، چې واټونه او بازارونه پرې ډک دي او ژند یې ورته ککړ کړی دی.
په دغه کتاب کې د دغو کمزور ټکو تر یادولو وروسته دا ټکی هم راوړل شوی و،چې د اسلامي قانون اصل او د پېغمبر دستور د د غو پر خلاف دی؛ نو داسې کار په کار دی،چې

Made with Xodo PDF Reader and Editor

مسلمانان د خپل دین له حقیقته خبر نشي،چې دغه کمزوری ټکی پکې ثابت پاتې شي.

په نومړي کتاب کې د غو لاندې ټکیو ته اشاره شوې وه، چې اسلام د مسلمانانو د اوسني وضع پر خلاف دی:

۱ ـ هغوی ته یې د وحدت، پیوستون او همکارۍ حکم کړی او قرآن فرمایي: **وَاعْتَصِمُواْ بِحَبْلِ اللّهِ جَمِيعًا وَلاَ تَفَرَّقُواْ**(آل عمران/۱۰۳) د خدای پر رسۍ منګولی ولګوئ او سره خپرېږئ مه.

۲ ـ هغوی یې د پوهې او زده کړې تر لاسه کولو ته ګمارلي او حدیث دی،چې طلب العلم فریضة علی کل مسلم و مسلمه. زده کړه پر هر مسلمان نر او ښځه فرض دي.

۳ ـ هغوی یې ویښتیا او هوښیارۍ ته بللي. قرآن فرمایي: **فَسِيرُواْ فِي الأَرْضِ** (پرځمکه وګرځئ) (نحل /۳۶)

٤ ـ هغوی ته یې د ودانولو حکم کړی. قرآن فرمایي: بقره ۲۰۱ آیت: **وِمِنْهُم مَّن يَقُولُ رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً**. له دوی ځني وایي: خدایه موږ ته په دنیا کې نېکي راکړه او په آخرت کې هم.

۵ ـ هغوی ته خدای د مشورې امر کړی دی او د رای له تحمیل او استبداده یې منع کړي دي. قرآن وایي: **وَأَمْرُهُمْ شُورَى بَيْنَهُمْ** (د شوری ۳۸ آیت)

Made with Xodo PDF Reader and Editor

٦ ـ هغوی ته يې د لارو د امنيت د ټينګښت امر کړی دی. په قرآن کې يې ويلي دي: د ملک ۱۵ آيت: **فَامْشُوا فِي مَنَاكِبِهَا** (پر ځمکه روان شئ.)

۷ ـ اسلام مسلمانانو ته امر کړی، چې د بدن په سلامتۍ کې هڅه وکړئ او روغتيا ته پام وکړئ؛ لکه په حديث کې چې راغلی دي:

علوم څلور ډوله دي: د فقهې علم د دين د ساتنې لپاره،د طب علم د بدن د روغتيا لپاره، د نحوې علم په وينا کې له غلطيو نه د ژبې د ساتنې لپاره، د نجوم علم د وخت او زمانې د محاسبې لپاره (۱۲)

۸ ـ او مسلمانان يې له طبيعي منابعونه استفادې ته هڅولي دي. قرآن فرمايي: **خَلَقَ لَكُم مَّا فِي الأَرْضِ جَمِيعاً** (بقره ۲۹ آيت) (پر ځمکه هر څ خدای ستاسې لپاره شته کړي دي.)

۹ ـ او هغوی ته يې په چارو کې د نظم او سمون حکم کړی دی. قرآن وايي: و انتپنا فيها من کل شئ موزون (الحجر ۱۹ آيت) په دې ځمکه کې مر هر څه منظم راټوکولی دي.#

۱۰ ـ او اسلام مسلمانانو ته په خپل اقتصادي ډګر کې د زيار حکم کړی دی. په حديث کې دي چې: من لامعاش له لا معاد له، څوک چې د معاش دتامين وسيله نه لري، د آخرت نيکمرغي به يې په برخه نه شي.

۱۱ ـ د پوځي قواو او جنګي تشکيلاتو د سمون او برابرولو حکم يې ورته کړی دی، قرآن فرمايي: انفال ٦۰ آيت: **وَأَعِدُّواْ**

Made with Xodo PDF Reader and Editor

**لَهُم مَّا اسْتَطَعْتُم مِّن قُوَّةٍ** (څومره مو چې وسه وي، د دښمن پر خلاف قوت برابر کړئ)

۱۲ _ دپاکوالي حکم ورته کوي. حديث دی چې "النظافة من الايمان " پاکوالی د ايمان جز دی.

۱۳ _ د ښځو د حقوقو ساتنې ته يې هڅوي. قرآن فرمايي: **وَلَهُنَّ مِثْلُ الَّذِي عَلَيْهِنَّ بِالْمَعْرُوفِ** (بقره ۲۲۸ آيت) او ښځې د ترسره کړي کار په بدل کې د نېکۍ مستحق دي.

په نومړي کتاب کې د مسلمانانو د پياوړتيا عوامل او د ځينو شيانو د له منځه وړو توصيه راغلې وه:

۱ _ قبيلوي،کورني،نژادي،جغرافيايي او ژبني امتيازات د مسلمانانو له نظره بې ارزښته دي او ځانونه يو د بل خپل گڼي.

۲ _ سود، احتکار (دگرانۍ په نيت زېرمه کول) ناوړتيا، شراب او بد ځناور ناولي گڼي.

۳ _ له خپلو عالمانو سره ډېره مينه لري.

٤ _ سنيان د خپل واکمن ډېر احترام کوي او د پېغمبر استازی يې گڼي او اطاعت يې واجب بولي.

٥ _ جهاد او له دښمن سره مبارزه ورته فرض ښکاري.

٦ _ شيعه گان د هر دين او مذهب غير مسلمان پليت گڼي.

۷ _ اسلام تر ټولو دينونو اوچت بولي او په نړۍ کې تر اسلام اوچت دين نه پېژني.

۸ _ شيعه گان په خپلو ښارونو کې د يهودي کليساوو جوړول نه پرېږدي.

Made with Xodo PDF Reader and Editor

۹ _ د زیاتره مسلمانانو دا خیال دی، چې یهود او نصاری دې له جزیرة العربه ووځي.

۱۰_ پر درې گونو (لمونځ، روژه، حج) عباداتو سخت ټینگ ولاړ دي.

۱۱ _ شیعه گان د پینځمې (خمس) ورکول فرض گڼي او د خپلې گاللې گټې پینځمه خپلو علماوو ته ورکوي.

۱۲ _ پر خپلې اسلامي عقیدې سخت ټینگ ولاړ دي.

۱۳ _ خپل اولاد د خپلو مسلمانانو پلرونو او نیکونو په څېر روزي، هیڅ یو زوی د خپل پلار له لارې بېلېدای نشي.

۱٤ _ ښځې یې ستر مني او محجوبې دي؛ نو ځکه یې په ټولنه کې فساد او ناوړتیاوې نه خپرېږي.

۱۵ _ د جمعې (جماعت) لمونځ پکې رواج دی او د همدې پروگرام له مخې د ورځې څو ځل راغونډېږي.

۱٦ _ د پېغمبر او د هغه د اولادې او د مذهبي لویانو قبرونه د هغوی د راغونډېدو مرکزونه دي او د دغو قبرونو د زیارت په نامه سترې غونډې کوي.

۱۷ _ شیعه گان ډېرې تکیه خانې او حسینیې لري، چې د ویر او ماتم په وخت کې پکې راغونډېږي او واعظان او خطیبان پکې ویناوې کوي او د ایمان ساتنې او ښېگڼې ته یې هڅوي.

۱۸ _ پر نېکیو امر او له بدیو منع (ملي څارنه) د دوی له نظره فرض ده.

Made with Xodo PDF Reader and Editor

۱۹ _ په واده ډېر ټينګ دي او د نسل زياتوالی او د ښځو د شمېر ډېرښت سنت ګڼي.
۲۰ _ د دوی له نظره که يو څوک يو کافر مسلمان کړای شي، دا ترديې غوره ده، چې ده ته دنيا ورکړ شي.
۲۱ _ هغوی په دې عقيده دي، چې که څوک د سنتو يا د يوه نېک کار بنسټ کېږدي؛ ټول هغه نېک او عبادتي کارونه، چې د دغو سنتو پر بنسټ ترسره کېږي، په ده پورې اړه لري.
۲۲ _ قرآن او حديث دوی ته ډېر ازرښت لري او د دغو دواړو پېروي د جنت او ثواب سبب ګڼي.

د مسلمانانو د پياوړتيا او قوت د عواملو تر يادونې وروسته په دغه کتاب کې دا توصيه شوې وه، چې د دغو عواملو د له منځه وړلو او د کمزوريو د زياتوالي هڅه بايد وشي او د دغو دواړو پلانونو د عملي کولو د څرنګوالي لارښوونه يې کړې وه:

۱ _ د اختلافاتو د زياتولو يوازنۍ لار د هغو طبقاتو ترمنځ د بدګڼۍ رامنځته کول دي، چې په خپلو کې سره په شخړه دي او داسې کتابونه خپرول پکار دي، چې دغو اختلافاتو ته لمن ووهي او د دې کار لپاره بايد ښه پوره پيسې بېلې کړای شي.
۲ _ د هغوی د ناپوهۍ او بېسوادۍ د ادامې لپاره بايد د مدرسو د جوړېدو او کتابونو د خپرېدو مخنيوی وشي او، چې څومره کېدای شي، کتابونه او علمي زېرمې يې له منځه يوړل شي او خلک دينې مدرسو ته بدبين کړای شي، چې خپل بچي

Made with Xodo PDF Reader and Editor

مدرسو ته ونه لېږي او د دې کار د عملي کولو يوازنۍ لار پر ديني شخصيتنو د بېځايه تورونو لګول دي.

۳، ٤ ـ په غفلت او لټۍ کې د خلکو د ساتنې لار دا ده، چې د هغوی نظر بايد جنت او آخرت ته زيات واړول شي او سرونه يې په ذکر او دعاوو کې راګېر کړای شي،چې د د دې کار لپاره بايد د صوفيتوب ډلګۍ او ټولي پياوړي کړای شي او شعرونه، غزلې خصوصا مثنوي مولوي او د محی الدين بن عربي کتابونه پکې خپاره شي.

۵ ـد مسلمانانو د حکومتونو او دولتونو ديکتاتوري بايد داسې پياوړې کړای شي او خلکو ته ديکتاتور واکمن د خدای سيوری او ظل الله وښوول شي.

٦ ـ د لارو او ښارونو بدامني؛ بايد لهو لعب ته د واکمنو او حکامو د تشويقولو له لارې پياوړې شي. حکومتونه په هوسونو او عياشيو مشغول کړای شي، چې د غلو او خاينانو له نيولو نه يې پام بل خوا شي، بلخوا بايد غله او سرغړوونکي پياوړي کړای شي، وسله دې ورکړي شي او الې ګولې ته دې وهڅول شي.

۷ ـ د عامې روغتيا د نشتوالي د ادامې لپاره بايد د خلکو له مغزو نه د علاج فکر وايستل شي او لار يې داده، چې په مسلمانانو کې د جبر مذهب پياوړی شي (څه چې خدای وغواړي، هماغه کيږي، که خدای د يو چا د مرګ اراده

Made with Xodo PDF Reader and Editor

وکړي،علاج هیڅ ګټه نه لري او که خدای چا ته شفا ورکول وغواړي؛ نو درو درملو او طبیب ته هیڅ اړتیا نشته)
۸ _ د ښارونو دورانولو او د سیمو او هېوادونو د رنګولو لپاره په دربمه او څلورمه ماده کې راغلي ټکي عملي شي. خلک روحي او وچو معنوي اړخونو ته متوجه کړای شي او عرفانیت او صوفیتوب پکې خپور کړای شي.
۹ _ د واکمنو د مطلق العناني او مامورینو د خپلسرۍ لپاره باید مسلمانانو ته دا وویل شي، چې اسلام یوازې د عبادت دین دی او د قانون اداري تشکیلاتو لپاره پکې څه نشته؛ځکه پېغمبر او اخلاقو یې اداره، وزارت او قانون نه درلود.
۱۰ _ د مسلمانانو د اقتصادي رکود د رامنځته کولو لپاره باید دومره هڅه وشي، چې زراعتي پیده وار یې وسیځل شي او تجارتي بېړۍ یې په سمندرونو کې ډوبې کړای شي، پر ښارونو او لویو بازارونو اور ولګول شي او داسې نقشې جوړې شي، چې سمسورې زراعتي ځمکې یې شاړې شي او د خلکو د څښاک او به زهرجنې شي.
۱۱ _د اسلامي هېوادو د پوځي تشکیلاتو د ګډوډولو لپاره باید حکومتونه او د هغوی پلویان فساد،شراب او عیاشۍ ته راښکل شي چه ټوله ملي بودجه پر خپلو چارو او ساعت تېرۍ ولګوي او د پوځ د سمبالولو او وسلې د اخېستو لپاره ورسره پیسې پاتې نه شي.

Made with Xodo PDF Reader and Editor

۱۲ _ په اسلامي ټولنو کې د ښځې د سپکاوي په باب هڅه وشي او ښځه باید په ټولنه کې داسې وښوول شي، چې څه ارزښت نه لري، هر څه یې بد دي او په ټولنه کې یې هیڅ حد او حق نشته.

۱۳ _ د دوی د استوګنې د محیط د ککړتیا لپاره باید د اوبو د زیاتوالي مخنیوی وشي او د اوبه سرچینې یې ورانې کړای شي.

خو کومې طرحې چې په دغه کتاب کې د مسلمانانو د پیاوړتیا او قوت د عواملو د له منځه وړلو په باب ذکر شوې وې دا وې:

۱ _ کورني امتیازات او نژادي تبعیضونه او جغرافیایي او ژبني امتیازات پکې زیات او رواج کړای شي او ورپسې د هر مسلمان ملت هغه ملي او تاریخ سوابق باید ورڅرګند کړای شي، چې له مسلمانېدو نه مخکې یې درلود او په اصطلاح د هرې ټولنې د ملیت غوښتنې حس له اسلامه مخکې ملي اصولو ته د غاړې ایښود په نامه وپارول شي، مثلا مسلمانانو ته په مصر کې د فرعونیانو تاریخچه او د قبطئانو د تمدن سوابق په ایران کې د مجوسیانو او په عراق کې د کلدیانو او اشوریانو تاریخ سوابق په مخکې کېښوول شي او په دې توګه د مسلمانو ملتو ترمنځ اختلاف رامنځ ته شي.

۲ _ په مسلمانانو کې شراب،جواري،فحشا او د بد ځناور غوښه زیاته کړای شي او د دې هدف د تر لاسه کولو لپاره باید په اسلامي هېوادو کې له مذهبي اقلیتونو خصوصا یهودو او مسیحیانو سره مرسته وشي،چې په مسلمانانو کې دغه چارې

Made with Xodo PDF Reader and Editor

عامې کړي او د بریتانیا د مستعمرو وزارت باید د دې نقشې لپاره زیاتې پیسې پلې کړي او په اسلامي هېوادو کې د دغو مفاسدو د خپرولو لپاره خاص خلک او کارمندان وگماري او هر چا، چې په دې برخه کې د پام وړ پرمختگ وکړ؛ د وزارت له خوا دې ارزښتناکې جایزې ورکړې شي، چې ډېر ژر دغه څلور واړه فسادونه په اسلامي هېوادو کې خپاره شي او په اسلامي هېوادو کې د بریتانیا د دولت میشته کارمندانو (ځلکه د سفارتونو کارمندانو) ته امر وشي،چې د مسلمانانو په مخکې دې شرابخوري، جواري او فحشا وکړي او که کله د اسلامي حکومتونو له خوا بد گڼل کېږي؛ د بریتانیا دولت دې یې بشپړ ملاتړ وکړي، پر دې څلورو فسادو سربېره،په مسلمانانو کې په هره وسیله، چې وي سود رواج کړای شي؛ځکه سود مسلمانانو ته د اقتصادي ماتې پر رامنځته کولو سربېره د قرآن د قوانینو د مخالفت جرات هم ورکوي؛ځکه کله چې یې له دغه ستر قانون سره، چې قرآن یې سخت ټینگار کوي مخالفت وکړ؛ د نورو قوانینو پر وړاندې هم د تخلف جرات پیدا کوي،د دې نقشې د علمي کولو لپاره باید لومړی مسلمانانو ته واورول شي، چې دوه چنده سود حرام دی (د یوې په مقابل کې دوه اخېستل حرام دي)؛ځکه خدای فرمایلی دي: **لاَ تَأْكُلُواْ الرِّبَا أَضْعَافًا مُّضَاعَفَةً** (ال عمران ۱۳۰آیت) (څو چنده سود مه خورئ) یعنې له دوه چنده نه کم حرام نه دی.

Made with Xodo PDF Reader and Editor

۳، ٤ _له مذهبي علماوو او پوهانو سره باید د مسلمانانو اړیکه کمزورې شي او د دې کار لپاره باید پر علماوو زیات تورونه پورې شي او ځینې خلک وګمارل شي، چې د اسلامي علماوو په نامه کې ډېر ناوړه اعمال وکړي،چې خلک پرې بې باوره شي او له دغو مامورینو څخه ځیني باید د مصر په الأزهر،د استانې په لوی پوهنتون او د نجف په علمیه حوزه کې شامل شي.

له دیني علماوو نه د خلکو د لرې کولو لپاره بله وسیله د مستعمرو د وزارت د کارمندانو په وسیله د هلکانو مدرسو تاسیسول دي. په دغو مدرسو کې باید له لومړي سره مسلمان د علماوو او اسلامي روحانیونو مخالف وروزل شي او د دوی بدي ورته په ګوته کړای شي او ورته وښوول شي،چې دا علما په مزو چړچو او په عیش و عشرت کې د ملت دپیسو په لګولو اخته دي.

٥ _ د جهاد د فرضیت په برخه کې باید مسلمانان په شک کې واچول شي او ورته وویل شي، چې جهاد یوازې د پېغمبر په وخت کې او د هغه سیوري لاندې فرض و اوس نه دی.

٦ _ د کافرو د نجس ګڼلو عقیده باید د شیعه ګانو له مغزو وایستل شي او دا استدلال یې په فکر کې کېښوول شي چې قرآن د اهل کتابو په باب فرمایلي چې: **وَطَعَامُ الَّذِينَ أُوتُواْ الْكِتَابَ** (مائده/٥) او د اهل کتابو خواړه تاسې ته حلال دي او ستاسې خواړه هغوی ته حلال دي.

Made with Xodo PDF Reader and Editor

او د پیغمبر خو په خپله یوه ښځه صفیه یهودي او بله یې ماریه نصراني وه؛ نو څنگه کېدای شي،چې د پیغمبر ښځه دې نجسه وي؟

۷ _ مسلمانان باید په دې خبره ټینگ کړای شي چې: له اسلام او مسلمانۍ نه مراد مذهبیتوب دی یهودي مذهب وي که نصارني او یا محمدي؛ ځکه قرآن د یوسف له خولې را اخېستې دي، چې له خدای نه یې سوال وکړو چې: **تَوَفَّنِي مُسْلِمًا** (یوسف /۱۰۱) خدایه ما مسلمان مړ کړه)

په داسې حال کې چې یوسف د مرگ په وخت کې بوډا او محمد لا نه و. او ابراهیم او اسماعیل له خدای نه وغوښتل: (بقره/۱۲۸) **رَبَّنَا وَاجْعَلْنَا مُسْلِمَيْنِ لَكَ** پروردگاره! موږ دواړه مسلمان وگرځوه.

او د قرآن د وینا له مخې یعقوب خپلو زامنو ته وویل: (بقره/ ۱۳۲) **فَلاَ تَمُوتُنَّ إَلاَّ وَأَنتُم مُّسْلِمُونَ**،مه مرئ، مگر مسلمان ومرئ.

۸ _ او دا فکر هم باید له شیعه گانو واخېستل شي، چې په خپلو ښارونو کې د کلیساگانو د جوړولو مخنیوی کوي؛ځکه قرآن اهل کتابو ته وایي: (حج/٤٠) **وَلَوْلَا دَفْعُ اللَّهِ النَّاسَ بَعْضَهُم بِبَعْضٍ لَّهُدِّمَتْ صَوَامِعُ وَبِيَعٌ وَصَلَوَاتٌ**

که خدای ځینې په ځېنو نورو دفع کړې نه وای؛ نو صومعې مسیحي معبدو ته او بیع یهودي معبودونه او صلوات مجوسي عبادت ځایونه به ړنگ شوي وای.

Made with Xodo PDF Reader and Editor

پېغمبر او خلفاو يې دغه ځايونه نه ورانول؛بلکې درناوی يې کاوه. د اسلام له نظره عبادتځايونه محترم دي.
۹ ـ په دغو حديثونو کې چې د مسلمانانو ترمنځ مشهور دی: اخر جوا اليهود من جزيرة العرب (يهود له جزيرة العرب نه وباسي) و لا يجتمع دينان فی جزيرة العرب (په جزيرة العرب کې دوه دينونه نه ځايېږي) بايد شک پيدا کړای شي او پر هغوی دا ومنل شي، چې که دا حديثونه صحيح وای؛ نو پېغمبر به يهودۍ او نصرانۍ ښځه نه کوله او د طلحه صحابي ښځه به يهودۍ نه وای او د نجران له نصاراوو سره به يې راکړه ورکړه نه کولای او د جزيي تړون به يې ورسره نه کاوه.
۱۰ ـ مسلمانان بايد له عبادته منع کړای شي او ورته وويل شي، چې خدای ستاسې له عبادت او اطاعته بې نيازه دی، خصوصا د حج په برخه کې بايد مسلمانان په هره وسيله، چې کېدای شي، د حج له ادا کولو نه رامنع کړای شي او اصلا هر هغه عبادت نه منع کړای شي، چې په يوه خاص ځای کې د راغونډېدو او د دوی د خپلمنځي مينې او الفت سبب کېږي؛ لکه د جماعت لمونځ، د وير او ماتم په غونډو کې ګډون او د امام حسين عزا داري او اصلا بايد د جوماتونو،حسينيو او د علمي او ديني مدرسو له جوړولو او د کعبې د ودانۍ او د پېغمبر او مسلمانانو لويانو د قبرونو ودانولو سخت مخنيوی وشي.

Made with Xodo PDF Reader and Editor

۱۱ _ د خمس د وجوب په باب باید شیعه ګانو ته شک واچول شي او وروښوول شي،چې خمس یوازې په هغو جنګي غنایمو کې دی، چې د جنګ له میدانه راوړل شي او په هغه عاید پورې څه اړه نه لري، چې کسب او هنره تر لاسه کېږي او پردې سربېره، شیعه ګان باید په دې شک کې پرې ایستل شي،چې خمس باید مستقیما پیغمبر یا امام ته ورکړ شي، نه کوم دیني عالم او مذهبي مرجع ته او بلخوا یې دا باید غوړونو ته ورسول شي،چې علما په دغه ورکول کېدونکي خمس ځان ته کورونه،وداني او مانۍ جوړوي او ستاسې په چارو کې یې نه لګوي.

۱۲ _مسلمانان باید د خپلو ټولو اسلامي عقایدو په باب شکمن کړای شي او دا ورته وویل شي،چې اسلام د استبدادي نظر خاوند دین دی او داسې دین دی، چې عمل پرې ناممکن دی، همېشه ترې سر غړول کېږي او دلیل یې په اسلامي هېوادو کې دغه ټولې غلاوې او ګډوډۍ دي.

۱۳ _ د عقیدي، فکراو سلیقې له مخې باید د پلرونو او زامنو تر منځ بېلتون پیدا کړای شي؛زامن د پلرونو له روزنې نه ووځي او بیا به نوي ځوانان زموږ د روزنې لمن ته راپرېوځي او په اسانۍ به وکړای شو، چې له اسلامي افکارو د اسلامي علماوو له لمنې یې رابېل کړو.

۱٤ _ هر څنګه چې وي،باید مسلمانه ښځه له پردې نه راو ایستل شي او په مسلمانو ښځو کې بې ستري رواج کړو او د

Made with Xodo PDF Reader and Editor

ستر د لرې کولو لپاره باید ورته وویل شي، چې برقي او څادري د اسلام حجاب نه دی څادر او څادري له اسلامه د مخکې ایرانیانو جامه ده ا و برقع عباسي خلفاوو مسلمانانو ښځو ته را پیدا کړې ده. دا هم څه اسلامي لباس نه دی. د اسلام د صدر خلکو د پېغمبر ښځې لیدې، ښځې د نارینه وو په ټولو چارو کې شریکې وې.

نو چې کلهښځې له پردې نه راووتې، نران او ځوانان پرې زړونه بایلي بیا نو کورنیو ته فساد په خپله ورننوځي. د دی نقشې د عملی کولو لپاره باید لومړی هڅه وشي، چې په اسلامي هېوادو کې نامسلمانې ښځې له پردې نه راووځي،چې مسلمانې ښځې یې پر پله روانې شي.

۱۵ _ دجمعې (جماعت) د لمانځه د له منځ وړلو لپاره له دې لارې کار واخېستل شي،چې د جوماتونو په امامانو پورې د داسې فساد تورو پورې شي،چې خلکو ته اسانه ثابت کړي چې او د امامانو او مقتدیانو ترمنځ اختلاف پیدا کړای شي.

۱٦ _ د پېغمبر او د دین د لویانو قبرونه او حرمونه د مسلمانانو د پیاوړتیا ستر عامل دی، د هغو د له منځه وړلو هڅه پکار ده او خلک د دغو حرمونو له زیارته باید داسې منع شي،چې ورته ویل شي، د پېغمبر په وخت کې دغه حرمونه نه وو؛نو تر اسلامي شریعت وروسته یې جوړول په اسلام کې یو بدعت دی.بلخوا د دغو قبرونو په اصلیت کې شک پیدا کول پکار دي،چې د پېغمبر قبر دلته نه بلکې په ابوا کې د خپلې مورتر

Made with Xodo PDF Reader and Editor

څنګ دی او ابوبکر او عمر هم په بقیع کې ښخ دي او د عثمان قبر هم نه دی معلوم، د علی قبر په نجف کې نه په بصره کې دی او په نجف کې هغه قبر د مغیره بن شعبه دی او د حسین سر هم په مسجد حنانه کې ښخ دی او تنه یې معلومه نه ده،چې چېرته ده؟ په کاظمین کې هم د دوو عباسي خلیفه ګانو قبرونه دي؛ نه د موسی بن جعفر او امام جواد، په مشهد کې هم د هارون قبر دی، نه د امام رضا او په سامرا کې بني عباس خلیفه ګان ښخ دي، نه امام هادي او امام عسکري او باید په بقیع کې د ټولو قبرونو ودانۍ او ینجرې له منځه یووړل شي او له خاورو سره خاورې شي.

لنډه دا چې د دغو ټولو حرمونو، زیارتونو او ګنبدو، چې په اسلامي ښارونو کې د دین لویانو د قبرونو په نامه دي، له یو مخې ړنګول پکار دي.

۱۷_ د سیادت او له پېغمبر سره د تړون مساله باید د مسلمانانو له منځه ووځي؛ځکه چې خلکو ته له دې امله،چې له پېغمبر سره تړون لري، درانه کتل کېږي او په لیدو پېغمبر وریادېږي او په مسلمانانو کې د پېغمبر یاد تازه کوي، د دغسې کسانو په نسب کې باید شک پیدا شي او د دوی پر سرونو تورې او شنې پګړۍ له دوی نه لرې او ځینی نور غیر سید یې پر سرولو ته مجبور کړای شي او ځینې غیر سید، چې خلک یې هم پېژني، چې سیدان نه دي، په ټولنه کې رامنځته شي، چې د

Made with Xodo PDF Reader and Editor

نورو په باب هم خلک شکمن شي، ورو ورو به دغه ظاهري امتیاز له منځه ولاړ شي.
دغه راز همدا نقشه د مذهبي علماوو د له منځه وړو لپاره هم موثره ده ځکه که دغه لباس او پګړۍ، چې د هغوی ظاهري امتیاز دی، د شکل د یو رنګۍ له امله ترې واخېستل شو، د هغوی اجتماعي موقعیت ورو ورو له منځه ځي او ارزښت یې کمېږي.
۱۸ _ هر څنګه چې کېږي، دغه حسینیې باید وراني شي او د ویر او عزا غونډې،چې شیعه ګان یې د حسین د درناوي او تعظیم په نامه جوړوي،بیخي منع شي او یا یې لږ تر لږه واعظان او خطیبان کم کړای شي او د دې هدف د تر لاسه کولو لپاره باید واعظان او د حسینیو او عزادارۍ د مراسمو چلوونکي تورن شي،چې پردې ډلې د خلکو اطمینان او باور ورک شي.
۱۹_د مسلمانانو ترمنځ د ازادۍ په نامه بې بندوباري رواجول پکار دي او دا ورته باید وویل شي،چې امر معروف او نهی عن منکر نور معنی نه لري او هر څوک باید په خپل کار کې ازاد وي او دا عبارت یې په ذهن کې کېنول پکار دي چې: عیسی به دین خود و موسی به دین خود. یا دا چې یو د بل په قبر کې نه ښخلي،د امر و نهی موضوع او مخنیوی د دولت دنده ده،خلک یو د بل په چارو کې د مداخلې حق نه لري.
۲۰_د واده مساله باید مسلمانانو ته ډېره درنه وښوول شي او خصوصا د ودونو د زیاتوالي مخنیوی وشي او دا قانون یې باید

Made with Xodo PDF Reader and Editor

ترمنځ ځای شي،چې عرب د ایرانی ښځې د ودولو حق نه لري.
۲۱ _ د اسلام د ترويج مخنيوی باید وشي او مسلمانانو ته باید وويل چې اسلام د يوې قبيلې دين دی او په عربو پورې اړه لري؛ لکه قرآن چې وايي: (زخرف/ ٤٤) **وَإِنَّهُ لَذِكْرٌ لَّكَ وَلِقَوْمِكَ** او قرآن ستا او ستا د قوم لپاره ذکر دی.
۲۲ _ جاريه صدقې او سنتو؛ لکه موقوفات (اوقاف) او خيريه مرکزونه باید ور ورو له منځه يووړل شي او له خلکو نه واخيستل شي.
او د دغو نقشو تطبيق د دولت دنده وګڼل شي. خلک د مدرسې، جومامت، پالنځي او عبادتخانې د جوړولو حق نه لري، دا د دولت کار دی او باید دولت يې نقشې عملي کړي.
۲۳ _ د مسلمانانو د قرآن په وضع کې باید لاس ووهل شي، لومړی باید له معنی او تفسيره واړول شي او يوازې لوست، ښکلو ويلو او د ژبې د تلفظ د اصولو زده کولو ته وهڅول شي او په خلکو کې دا شک راپيدا کړای شي،چې په قرآن کې لاس وهل شوی او هر ځنګه، چې کېدای شي له قرآن نه هغه آيتونه وايستل شي،چې د يهودو او نصاراوو په غندنه کې دي او هر ځنګه چې وي، غير عربو مسلمانانو ته په خپلو ژبو (ترکي، فارسي، او.....۹ ترجمه شي او د عربي قرآن (اصل متن) له لوستو نه منع شي او همدارنګه پکې دا دودو ورو ور عام کړای شي، چې له اذان او د عربي دعاوو له لوستو نه ډډه

Made with Xodo PDF Reader and Editor

وکړي او په خپله ژبه یې ولولي او په احادیثو کې یې هم باید
لاس ووهل شي چې مسلمانان د خپلو احادیثواو مذهبي اخبار
په باب کرکجن شي.
دا هغه ټکي وو، چې له هغه کتاب نه مې په یاد دي. د دې
کتاب نوم و: اسلام څنګه له منځې ځي؟ دغه کتاب زما د
هدف په تر لاسه کولو کې سترې نقشې را په لاس کړې، کتاب
مې چې سکرتر ته ورکاوه، خپله حیرانتیا مې ورته وویله، هغه
راته وویل: په دې وپوهېږه چې ته د دې کتاب د نقشو په
عملي کولو کې یوازې نه یې؛بلکې وزارت تر ننه د دې نقشو د
تطبیق لپاره ستا په څېر د پینځه زرو کسو په ګمارلو او په
اسلامي ټولنو کې یې په خپرولو بریالی شوی دی. د مستعمرو
وزارت غواړي د دې نقشو لپاره یو لک کسه پکار واچوي او
که مو د خپلو جاسوسانو او کارمندانو شمېر نومړې اندازې ته
ورساوه؛ نو اسلام به په اسلامي هېوادو کې راوپرځولای شي.
سکرتر زیاته کړه: زه تا ته زیری درکوم، چې موږ له پیړی نه په
کمه موده کې خپلو هیلو ته رسېدای شو،که موږ په خپله هغه
وخت مړه وو، زامن به مو ډېر ژر دغه پرمختګ او قوت وویني
او دا مشهور متل دی چې وایي: نورو وکرل موږ وخوړل، موږ
یې کرو، چې نور یې وخوري.
هو: هغه وخت چې بریتانیا د اسلام په له منځه وړو کې بریالی
او پر اسلامي هېوادو برلاسې شوه، بیا به نو مسیحیت د اسلامي

Made with Xodo PDF Reader and Editor

قدرتونو تر بار لاندې د دولسو پیړیو د خپل زغملي او خوارۍ غچ واخېستلای شي.

سکرتر وویل: صلیبي جګړو له اسلامه غچ وانه خېستلای شو او څه ګټه یې هم نه وه؛لکه مغولو چې په خپلو ټولو بې رحمانه وژلو سره هم اسلام له بېخه و نه نړولای شو؛ځکه نقشه یې ناسنجیده وه. یو لړ پوځي نقشې یې عملي کړې؛خو قدرت او اثرات یې له واره له منځه ولاړل.

خو اوس: زموږ ستره امپراتوري د ا سلام په له منځه وړلو کې له یوې سنجېدلې او دقیقې نقشې او له یوه اوږده انتظار سره پر مخ ځي، موږ چې پوځي برید ته اړتیا لرو، دغه نقشه به مو آخر پلي کېږي؛ خو دا به هله کېږي، چې موږ په خپل اسلام له معارفو او حقایقو سره له منځه یووړلای شو.

په استانه کې د عثماني دولت سیاسیون ډېر زورور دي او په عربي هېوادو کې یې همدا زموږ نقشې د خپل استعمار د پیاوړتیا د پاره عملي کړي دي، د کوچنیانو د روزنې لپاره یې مدرسې جوړې کړې دي،چې هلکانو ته پکې د خپل ګرانښت او محبوبیت درس ورکوي او په اسلامي ښاورنو کې یهودي کلیساوې د نورو په لاسو جوړوي او شرابخوري،جواري او فحشاوې پکې خپرې کړې دي او ځوانان یې د دیني عقایدو په برخه کې له اشک او تردید سره مخ کړي دي او د حکومتونو او عربي واکمنو ترمنځ یې شخړې رامنځ ته کړې دي او ښکلې مسیحي نجونې یې د لویانو اوا صیلو په کورنیو

Made with Xodo PDF Reader and Editor

کې ځای پر ځای کړي دي، چې دغه ټولې نقشې په دغو هېوادو کې اسلام له بېخه نړوي.

Made with Xodo PDF Reader and Editor

اووم یادداښت

سکرتر دوهم راز "سر" دا راوښود چې یوه پنځوس مخیزه کتابچگۍ یې راکړه،چې پکې په یوه پېړۍ کې د اسلام او مسلمانانو د ځپلو مختلفې نقشې رسم شوې وې او مطلب یې داسې ښوولی و، چې د دغو نقشو په عملي کولو سره یوه پېړۍ وروسته له اسلام نه هسې یو کیسه جوړېده، البته د رسالې مخاطب د وزارت رئیسان،سرپرستان، جاسوسان او کارمندان وو.

سکرتر د رسالې د ساتنې او د مطالبو د پټولو سخته ټینگتیا راباندې وکړه،چې دغه نقشې مسلمانانو ته ونه رسېږي او هغوی زموږ پرخلاف نقشې جوړې نه کړي.

د رسالې لنډیز دا و: لومړۍ فقره: له تزاري روسي امپراتورۍ سره پر پراخو اسلامي سیمو بخارا،تاجکستان،ارمنستان او خراسان د برلاسۍ لپاره مرسته باید وشي او همدارنگه له دغې امپراتورۍ سره له ترکیې سره د نښتنو سرحدي سیمو په لاندې کولو کې مرسته پکار ده.

دویمه فقره: له فرانسې او روسیې سره یو تړون په کار دی، چې د اسلامي نړۍ په ځپلو کې گډه نقشه جوړه کړي.

درېمه فقره: د عثماني دولت او ایران ترمنځ سختې شخړې باید رامنځ ته کړای شي او د فارس او ترک د اختلاف اور ته لمن ووهل شي.

Made with Xodo PDF Reader and Editor

د دواړو هېوادو د سرحدي سيمو پرتې قبيلې بايد په خپلو کې واچول شي او د اختلاف بايد په ټولو اسلامي ښارونو کې د نويو مذهبونو يا د زړو اختلافي مذهبونو د تجديد له لارې راپيدا کړای شي.

څلورمه فقره: د يوې ژورې نقشې د عملي کولو په برخه کې داسې يو کار کول په کار دي، چې د ځېنو اسلامي ښارونو حکومتونه د غير مسلمانانو په لاس کې پرېوځي، مثلا مدينه د يهودو لاس ته ورشي. اسکندريه مسيحيانو، يزد زردشتايانو، عماره ستورنمانځونکيو، کرمانشاه على اللهيانو او موصل يزيديانو ته. او د فارس خليج جزيرو ته د ځېنو هندوانو تر مهاجرولو وروسته بايد هغه سيمه هندوانو ته وسپارل شي. طرابلس دُدروزيانو، قارض د علويانو او مسقط خوارجو او ناصبيانو ته ورکړای شي. او يو شمېر انگليسي مشاورين د بريتانيا د اهدافو د تر سره کولو لپاره په دغو سيمو کې ځای پر ځای کړای شي او دغه هر حکومت بايد د خپلې خاورې او اوبو پراخولو او زياتولو ته ولمسول شي،چې په دې توگه ټول اسلامي هېوادونه په خپلو کې سره وخوري.

پينځمه فقره: څومره چې کېدای شي د عثماني او ايراني دولتونو د تجزيې لپاره نقشې جوړې شي،چې پر وړو اتو زياتو هېوادو وويشل شي او د هند په باب هم بايد همدغه نقشه عملي کړای شي.

Made with Xodo PDF Reader and Editor

شپږمه فقره: په اسلامي ټولنو کې باید ظاهرا ښکلې او غلوونکي دینونه او مذهبونه رامنځ ته کړای شي او د هرې سیمې د جغرافیا او استوګنو د خصوصیاتو له مخې باید د دین لپاره نقشه جوړه شي؛ مثلا په شیعه سیمو کې باید داسې دین رامنځ ته کړای شي، چې امام حسین خدای وګڼي او جعفر صادق او مهدي ونمانځي او د علي بن موسی عبادت وکړي د لومړي دین لپاره مناسب ځای کربلا،دوهم لپاره اصفهان،دریم لپاره سامرا او د څلورم لپاره ښه مناسب ځای خراسان دی.

بلخوا د سنیانو دغه څلور مذهبه باید په څلورو دینونو داسې بدل شي چې په خپلو کې سره هیڅ رابطه ونه لري او په کتابونو کې یې داسې لاس ووهل شي،چې د هر مذهب پیروان یوازې په خپله ځانونه واقعي مسلمانان وګڼي او نورو ته د قتل وړ کافر ښکاره شي.

اوومه فقره: په مسلمانانو کې راز راز مفاسد؛ لکه زنا،لواطت، شراب او قمار رواج کړای شي.

چې د دې کار لپاره په اسلامي ملکونو کې اوسېدونکي غیر مسلمانان مناسب خلک دي او له همدېو نه باید د دې نقشې د عملي کولو لپاره زیاتې ډلې په کار واچول شي.

اتمه فقره: د اسلامي هېوادو د مقام اوکرسۍ خاوندان باید وپېرل شي او یا له ځینو لارو هغه کسان وګمارل شي، چې په وزارت کې زموږ د هیلو تر سره کوونکي دي او تر وسه باید داسې کار وشي، چې په هر اسلامي ښار کې غیر مسلمانان

Made with Xodo PDF Reader and Editor

واکم وي او د دې غرض لپاره ځینې غیر مسلمان خلک مسلمانان وښوول شي او په دغو مرکزونو کې وټاکل شي، چې زموږ هیلې پرې ترسره شي.

نهمه فقره: تر وسی وسی باید عربي ژبه له منځه یووړل شي او غیر عربی ژبو؛ لکه فارسي، کُردی او پښتو ته وده ورکړی شي او په عربې کې غیر عربي اصطلاحات ننه ایستل شي او دا له قرآن او حدیث نه د مسلمانانو ان عربو د لرې ایستو ستره نقشه ده.

لسمه فقره: په کار ده چې د واکمنو ترڅنګ هوښیار او ځیرک مشاورین وټاکل شي، چې پر واکمنو د وزارت د حاکمیت سبب وي او د دې نقشې د عملي کولو لپاره غوره لار داده، چې یو شمېر کسان د دې کار لپاره په نوبت سره د چپړاسي،زر خرید مریي او مینځې په توګه د حکومتونو دستګاه ته واستول شي، چې د خپلو زده کړو له مخې په هغه واکمن کې دومره نفوذ وکړي، چې د هغه مشاور شي او دومره ورپورې ونښلي، چې د بنګري په څېر یې په لاس کې پروت وي.

یوولسمه فقره: په اسلامي هېوادو کې د مسیحي مبلغینو له خوا د مسیحیت تبلیغات زیات کړای شي. مبلغین په هر ډګر کې د محاسب، طبیب او انجینر په نامه ولېږل شي، په اسلامي ملکونو کې مدرسې، کلیساګانې او په کلیسا پورې تړلې خیریه موسسې جوړې شي او په مسلمانانو میلیونونه مسیحي کتابونه وړیا وویشل شي او پردې ټکي باید ډېر زور واچول شي،چې په

Made with Xodo PDF Reader and Editor

مسلمانانو کې د هجري تاریخ ترڅنګ مسیحي کال هم په رسمیت وپېژندل شي او په اسلامي هېوادو کې په جوړولو کلیساوو، صوامعو او معبدونو کې د کشیشانو او راهبانو په جامه زیات شمېر جاسوسان ننه ایستل شي، چې کار یې په مسلمانانو کې د مسیحیت د نفوذ اسانتیا او د اسلامي ولسونو د کورنیو اوضاعو د اطلاع ترلاسه کولو وي او باید زیات شمېر پوهان وګمارو، چې د اسلامي ټولو خصوصیاتو تر پوهېدو روسته په اسلامي تاریخ کې ګوتې ووهي او اړولې یې ووېشي.

دولسمه فقره: د مسلمانانو ځوانانو (نجونو او هلکانو) په خامو لو کې باید هڅه وشي او په دیني عقایدو کې ورته شک پیدا کړای شي او ځومره چې کېدای شي، د ښوونځیو ،فاسدوونکیو کتابو ،مجلو، جریدو،رادیویي خپرونو او غیر مسلمانانو بوای فرینډ او ګرل فرینډ ملګرې او ملګري له لارې یې باید اخلاق فاسد کړای شي او د نقشې د عملي کولو لپاره یو شمېر مسیحي هلکان او نجونې په اسلامي هېوادو کې وګمارل شي، چې د یو دام غوندې مسلمان ځوانان ښکار کړي.

دیارلسمه فقره: د اسلامي هېوادو کورنیو جګړو او انقلابونو ته باید لمن ووهل شي،له غیر اسلامي یا ګاونډیو یهودو سره د اسلامي هېوادو سرحدي شخړې باید توندې کړای شي، چې د مسلمانانو زور اوبه شي او خپلې راتلونکې ته یې پام نشي او یو موټی نشي. مادي زور او فکري استعداد یې په دې لار کې ولګېږي او فعال او متحرک وګړي او ځوانان یې په دغو

Made with Xodo PDF Reader and Editor

کورنیو ا نقلابونونو او اختلافونو کې له منځه ولاړ شي او خپلسري او اله گوله پکې خپره شي.
څوارلسمه فقره: اقتصادي منابع خصوصا د کرنې ځمکې،رواني ويالې او نهرونه يې بايد شاړ شي او بېکاري او لټي پکې عامه کړای شي او د بيکارو لپاره يې بايد ځايونه جوړ شي او د نشه يي شيانو اعتياد پکې زيات شي.
په دغه رساله کې دغه څوارلس واړه فقرې پوره شرح شوې او د هرې فقرې د عملي کولو لپاره راز راز نقشې،عکسونه او شکلونه رسم شوي وو اما له سکرتر نه د دې ټولو معلوماتو او اطلاعاتو د را په لاس کولو له امله شکريه وکړه.
زه يو مياشت نور هم په لندن کې پاتې شوم، د وزارت لخوا بيا حکم وشو، چې دويم ځل عراق ته ولاړ شم، چې د محمد بن عبدالوهاب نقشه پوره کړم. سکرتر راته حکم وکړ، چې پام کوه درنه ډېر لږ غفلت او تفريط هم ونشي؛ځکه موږ ته د جاسوسانو او کارمندانو له خوا رارسېدلي مختلف راپورنه ښيي، چې دې (محمد بن عبدالوهاب) زموږ د اهدافو د تر سره کولو لپاره باوري سړی دی او د وزارت د اغراضو لپاره د سپړلی ښه اس دی.
سکرتر زياته کړه: دا ځل چې له محمد سره مخ شوې، خبره ورسره په ډاگه کړه؛ځکه په اصفهان کې زموږ کارمندانو هم ورسره هر څه په مېدان کې ايښې دي او د وزارت تجويز يې ورته ښکاره کړی او هغه هم منلی دی او موږ د هغه دا شرايط

Made with Xodo PDF Reader and Editor

منلي چې هغه به د خپلو څرګندونو او افکارو په باب د حکومتونو او علماوو له غندنې څخه ژغورو او دا چې پوره پیسې او وسلې به ورکوو او یو یو حکومت به ورته جوړوو،که وړوکی او په خپله سیمه (نجد) کې هم وي، د مستعمرو وزارت دا هر څه منلي دي. زه په دې خبره له خوشحالۍ نه په جامو کې نه ځاییدم. سکرتر ته مې وویل: اوس څه کار راسپارې او محمد د کومې نقشې عملي کولو ته وهڅوم؟ او شروع له کومه ځایه وکړم؟

سکرتر وویل: وزارت یو شپږ ماده ای نقشه جوړه کړې ده، چې باید محمد بن عبدالوهاب یې عملي کړي:

۱ _ په دې نامه د ټولو مسلمانانو کافرول،چې هغوی د ا سلام له واقعیت نه وتلي دي او د هغوی وینه بې ارزښته ده، باید ووژل شي او مالونه یې ولوټل شي او نر او ښځې یې باید د زرخرید و مینځو او مریانو غوندې بندیانې (اسیر) کړای شي.

۲ _ په دې نامه د کعبې ړنګول، چې دا ځای یو و وخت د بوتانو مرکز و او دا د شرک او بت نمانځنې له اثارو څنې ده او له حج نه د مسلمانانو منع کول او بیدیاني او صحرایي عرب د حاجیانو وژلو او د هغوی مالونو او پیسو لوټلو ته هڅول.

۳ _ له عثماني حکومت نه سرغړونه او د عثماني حکومت پر خلاف جنګ ته د خلکو لمسول او د پوځ او لښکر برابرول. د دې غرض د ترلاسه کولو لپاره پکار ده، چې لومړی د حجاز له

Made with Xodo PDF Reader and Editor

اشرافو او مخورو سره مبارزه وشي او، چې څومره کېدای شي زور او اثر یې کم شي.
٤ ـ په دې نامه په مکه، مدینه او د مسلمانانو په ټولو مقدسو ښارونو کې د گنبذو او حرمونو ړنگول،چې دا ټول د شرک نښې دي او دغو ځایونو ته پنا راوړل او ورسره مینه درلودل له خدای سره د شریک پیدا کول دي او، چې څومره کېدای شي، د مسلمانانو په نظر کې د پېغمبر او د دین د لویانو د شخصیت کمول او بې ارزښته کول؛ځکه دوی که هر څه وو؛ خو مړه شول ا و ولاړل او نور یې وجود د ننني نړۍ په چارو کې موثر نه دی.
٥ ـ په اسلامي ښارونو کې وېره، ظلم او اړودوړ په هر توگه، چې وي باید خپور شي.
٦ ـ په خلکو کې داسې قرآنونه خپرول پکار دي، چې په ځینو احایثو کې د شمېر زیاتوالی یا کموالی هم پکې ثبت وي.
سکرتر راته د نقشې په پای کې وویل: له دې درنې نقشې نه مه اندېښمنېږه، ته موظف یې، چې د نقشې مواد د محمد بن عبدالوهاب په لاس په اسلامي ټولنو کې وکړې،که فرضا په ترسره کولو کې یې پاتې راشې؛نو نور څوک به یې تر تا وروسته ترسره کړي، د بریتانیا امپراتوري د اوږدې ساه په راښکلو عادت ده، پرمختگ ورو ورو کېدای شي.
ښه فکر یې کړی و، حضرت محمد یو کس و، دومره لوی انقلاب یې سرته ورسولای شو،محمد بن عبدالوهاب هم یو

Made with Xodo PDF Reader and Editor

سړی دی، د دې نقشې په تر سره کولو کې یې څه خنډ دی؟ دی هم دا نقشه عملي او سرته رسولای شي.

څو ورځې وروسته مې له وزیر او سکرتر سره خدای پاماني وکړه او له ښځې،زوی او دوستانو مې مخه ښه واخیسته، په خدای پامانۍ کې مې ګران زوی راته وویل: بابا ژر راشه ! سترګې مې له اوښکو ډکې شوې، اوښکې مې ټینګې نه کړای شوې، ښځې مې راته وکتل او سخت یې وژړل.

عراق ته روان شوم او تر سختو کړاوونو له تېرېدلو روسته ینمه شپه، چې بصرې ته ورسېدم له واره د عبدالرضا کور ته ولاړم، ویده راپاڅېد روغبړ یې راسره وکړ، په غېږ کې یې ونیولم، زه ویده شوم، سهار راته عبدالرضا وویل: څو ورځې مخکې محمد بن عبدالوهاب بصرې ته راغلی، و ستا پوښتنه یې کوله، څو ورځې ولاړ او تا لپاره یې لیک راکړ، لیک مې واخېست و مې لوست، لیکلي یي و،چې نجد ته ځم او خپل د نجد پته یې هم لیکلې وه.

زه له واره په هماغه ورځ نجد ته روان شوم، له څو ورځو کړاو، سختۍ او مزله وروسته نجد ته ورسېدم او د محمد ځای ته ولاړم. محمد په کور کې و، ډېر کمزوری شوی و، څه مې ورته و نه ویل؛ خو هغه راسره دا تړون وکړ،چې زه به دې د مریي په نامه وښیم، چې بازار کې مې اخیستی؛خو چېرته مې لېږلی وې، اوس له سفره راغلی، دوستانو ته یې داسې وښوده او خلکو هم زه په همدې نامه وپېژندم.

Made with Xodo PDF Reader and Editor

لنډه دا چې د نوي مذهب د څرګندولو مقدمه مو جوړه کړه.
۱۱٤۳ هجري کال و، له محمد بن عبدالوهاب نه خپل ملګري راتاوو وو، چې خپل نوی مرام يې څرګند کړ، لومړی يې په يو لړ نغښتو او سرسري خبرو مطلب خاصو دوستانو ته وړاندې کړ او بيا يې د مطالبو د پراختيا او وينا او عقايدو په توضيح پيل وکړ، ما هم په دې ترڅ کې خلک د هغه ملاتړ ته هڅول، ګڼ شمېر پلويان ترې راغونډ وو او ډېری پيسې مو ورکړې.
کله به چې د شيخ په ملګرو کې د دښمنانو د بريد له امله څه کمزوري ماته ګډېده، ما به استقامت او ټينګار ته هڅول او داسې به مو ښوده،چې زه په داسې حالاتو کې تر دوی ټولو کلک يم، د محمدتبليغ او دعوت به چې څومره زياتېدو هماغومره به يې د ښمنان زياتېدل او کله به محمد دومره سوړ شو، چې د نقشې له عملي کولو نه به لاس پر کېدو ته ساز شو او له لارې به اوښتو ته تيار شو؛ خو ما به يې د عزم د ټينګولو هڅه کوله او ورته به مې ويل: محمد (ص) تر تا زيات دښمنان درلودل او تر تا زيات مخالفت ورسره کېده، دغه دښمني او مخالفتونه ستا د پرمختګ او لويي نښه ده، هر سمون په لومړي سر کې له يو لړ مبارزو او بريد سره مخېږي.
لنډه دا چې له دښمنانو سره لاس و ګريوان وو، داسې جاسوسان مو پکې نه ايستل، چې د هغوی خلک وو؛ خو په پيسو موا خېستل. کله چې به پر موږ حمله کېده، جاسوسانو به

Made with Xodo PDF Reader and Editor

خبرولو او یا که دښمنانو زموږ پر خلاف کومه نقشه جوړوله؛نو له واره به خبرېدو او نقشه به مو شنډوله.

یوه ورځ خبر شو چې د محمد ځینې دښمنان د ده د تښتونې په تکل کې دي.ما یوه نقشه جوړه کړه، چې د هغوی هر څه مې بېکاره کړل او بې پته مې کړل او خلک ترې ټول خپار شول.

محمد ماته ژمنه راکړه، چې د مستعمرو د وزارت ټول شپږ ګوني مواد به عملي کوم؛خو ا وس یې د ټولو عملي کول ناممکن دي او دا ډېره لرې ده، چې کعبه ړنګه کړو، که پر ټول حجاز واکمن هم شو، همدا راز د نوي قرآنکریم ترتیبول هم ډېر لرې ښکاري.

محمد زیات له مکې او استانې نه وېرېده. ویل یې: که موږ دا دواړه خبرې ښکاره کړو،دومره لښکرې به راباندې راوخېژي، چې که هر څه وکړو، زور به مو پرې ونه رسي او ما هم د هغه دا عذر ومانه؛ځکه د هغه وخت اسلامي فضا د دې دواړو خبرو د عملي کېدو تاب نه درلود.

څو کاله وروسته، چې د محمد بن عبدالوهاب نقشه د عملي کېدو په درشل کې وه، د مستعمرو وزارت وکړای شول، چې محمد بن سعود (د درعیسي امیر) زموږ په لور رامات کړي، هغوی موږ ته استازي راولېږل او له موږ سره یې همکاري اعلان کړه او د نقشې لنډیز د دوو محمدانو (محمد بن عبدالوهاب او محمد بن سعود) د پیوستون له امله عملي شوه،

Made with Xodo PDF Reader and Editor

د محمد بن عبدالوهاب د مذهب او د محمد بن سعود د قدرت له امله دواړه د خلکو پر ذهنونو، هېواد، شتمنۍ او ځانونو مسلط شول؛ځکه تاريخ ثابته کړې،چې ديني حکومتونه تر مذهبي پردې لاندې پر خلکو د تسلط له مخې تر مادي حکومتونو ډېر پياوړي وي.

له دې امله نو زموږ نقشه پياوړې شوه او د "درعيه" مو حکومتي پايتخت او مذهبي مرکز وټاکه او د مستعمرو وزارت په پټه له نوي حکومت سره د پيسو او بودجې مرسته کوله.

نوی حکومت ظاهرا يو شمېر مريان په بيه وپېرل، دغه مريان انګليسي افسران وو، چې د مستعمرانو په وزارت کې يې د دې کار زده کړه کړې وه، عربي ژبه يې ښه روانه زده وه او په پارتيزاني او صحرايي جګړو کې ښه تکړه شوي وو، د دوی شمېر يوولس کسه و او د محمد بن سعود ټولې يرغليزې نقشې او پوځي حملې د همدغو يوولس کسو له خوا جوړېدې او، چې هره نقشه به موږ دواړو محمدانو ته ورکړه، دوی به له ډېر لږ تخلف پرته ترسره کوله؛ البته ځينې وخت به، چې پر کومه خبره يا پيښه د وزارت له خوا څه خاص دستور رانه غی؛ نو بيا به زموږ تر منځ مناقشې کېدې؛خو دغه مناقشې به هسې لاس او مصنوعي وې او په اصل هدف کې سره يوه خوله وو.

موږ د عربي قبايلو نجونو سره ودونه وکړل او څه چې موږ ته حيرانوونکی وو، هغه له مېړه سره د مسلمانې ښځې اخلاص او سپېڅلتيا وه.

Made with Xodo PDF Reader and Editor

موږ په دغو ودونو سره په قبایلو کې داسې ورننوتو، چې موږ ته د قدرت یوه اډه شوه او دغه قدرت ورځ پر ورځ زیاتېده او مرکزیت یې ورځ په ورځ پیاوړی کېده. که ځینې ناوړه پېښې رامنځ ته شوې نه وای؛ زما له دغې کرلې زښې نه به یوه مېوه داره ونه جوړه شوې وای او سل فیصده مطلوبه مېوه به یې کړې وای.

Made with Xodo PDF Reader and Editor

پاورقي

(۱) گران لوستونکي پوهېږي، چې د دې پوښتنې ربښتينی ځواب دا نه دی؛ بلکې دا دی، چې کافر د مسلمان له نظره؛ځکه ناولی دی، چې دغه ناولتيا له کافر نه د مسلمان د بورن او ترهې سبب شي او د هغه ټولو کړو وړو ته په بده سترګه وګوري،چې په دې توګه پردی او اجنبيان يې تر اثر لاندې رانه وستلای شي.

(۲) دا خبره په ښاغلي همفري ته دروغ ښکاري؛ خو انجيل مسيح شرابخور څه چې شرابساز هم ګڼي. انجيل يوحنا دويم باب له ۱-۱۲ جملې:

په دېرشمه ورځ په قانای جليل کې واده و، د عيسی مور هم پکې وه، عيسی او شاګردان يې هم ورغوښتل شوي وو او، چې څه وخت شراب خلاص شول د عيسی مور عيسې ته وويل: شراب نه لري؟ عيسی ورته وويل: يه ښځې ستا په ما پورې څه کار دی؟ زما وار لا نه دی راغلی. مور يې نوکرانو ته وويل: زه چې څه درته وايم، هغه وکړئ،هلته د يهودو د پاکولو لپاره شپږ ډبرينې پيالې ايښې دي، چې دوه يا درې کيله مايع پکې ځاييده. عيسی ورته وويل: پيالی له اوبو ډکې کړئ بيا مې ورته وويل: واخلئ او د مجلس رئيس ته يې يوسئ، د مجلس رئيس، چې شراب شوې اوبه وڅکلې،و نه پوهېده، چې له کومه راغلې؛خو نوکران يې پوهېدل، د مجلس مشر د واده هلک(زوم) ته مخ ورواړوه، ويې ويل: خلک ښه شراب مخ

Made with Xodo PDF Reader and Editor

کې راوړي او تر مستۍ وروسته ناښه راوړي؛خو تا ښه شراب
تر اوسه ساتلي وو، همدا د عیسی لومړنۍ معجزه وه، چې په
فانای جلیل کې یې وښوده او خپل زور یې څرګند کړ؛ نو
شاګردانو یې پرې ایمان راووړ.

انجیل متی۲٦ باب – ٦۲ او ۷۲ جمله – انجیل مرقس – ١٤
باب، ۲٤-٥۲ جمله، انجیل لوقا۲۲ باب – ۱۷ جمله:

او دا چې ډوډۍ یې خوړه؛ نو عیسی ډوډۍ راواخېسته، د
برکت لپاره یې توکړه توکړه او دوی ته یې ورکړه، و یې ویل:
واخلئ وخورئ! دا زما جسد دی او پیاله یې راواخېسته، شکر
یې وایست او دوی ته یې ورکړه او ټولو ترې وڅښل او و یې
ویل دا مې د نوي عهد وینه ده، چې په ډېرو ځایونو کې
توییږي،تاسو ته وایم، چې تر دې وروسته به د انګورو ځوښه
تر هغې ونه خورم، چې تر څو یې د خدای په ملکوت کې ونه
څښم،د دې خبرې دا مطلب دی، چې عیسی (اسمان ته د
تګ) تر شپې پورې شراب (دا نګورو ځوښه) څښل.

(۳) داسې سپین سترګي له یوه کینه کښ مسیحي نه لرې ده؛
خو څنګه چې مې د دغو یادداښتونو له لیک او ترجمې نه بل
هدف درلود،نه مې غوښتل،چې د یادداښتونو په متن کې لاس
ووهم؛ نو د دوی لیکنې مې کټ مټ راواخېستې.

خو تاسې وینئ او سترګور مسلمانان پوره خبر اوسئ، چې د
پرونۍ نړۍ په ناوړه وضع کې د اسلام او رسول الله (ص) د
لوړو ښوونو پرمختګ یوازې یو عامل درلود او هغه دا، چې

Made with Xodo PDF Reader and Editor

معارف او قوانين يې د ستم ځپلي ملت له فطري او قلبي غوښتنو سره سم او له جنايت او شهوت نه لرې وو؛ خو د ننني مسلمانو ملتونو د بدمرغيو او بدبختيو علت د هغوحقايقو او معارفو تر پښو لاندې کول دي او دغه غربي مسيحي ولسونه، چې د يو دوو پيچونو په جوړولو دا گڼي، چې بس د تکامل او انساني قدرت وروستي حد ته رسېدلي دي او مسلمانان د ذلت او خوارۍ په کنده کې پراته دي. پرېږده، چې د هغوی د شهوت او د قدرت د مستۍ دور تېر شي او دغه حيرانونکې صنعت يې نور هم دومره پر مخ ولاړ شي، چې هستي او وجود يې د نابودۍ په خطر کې وغورځوي او د اتومي وسلو په استعمالولو سره، چې د صنعت او قدرت د پرمختگ محصول يې دی، هره شېبه د خپلې نېستۍ او ريز مريز کېدو ننداره پخپلو سترگو وکړي بيا به نو له ناچارۍ له دغه ستومانه او له فساد،وېرې او ډاره ډک ژوندانه نه د خلاصون لپاره اسلام ته پناه راوړي او اوس هم په لويديځ کې ډېر لويديځيان تر پلټنو وروسته اسلام ته رامات شوي.

(٤) دا خبره د پيغمبر اکرم د دستور پر خلاف ده؛ځکه د اسلام د پيغمبر دستور دادی، چې د فتنې د راڅرگندېدو په وخت کې بايد هر نا اشنا او نامعلوم شی د مسلمان له نظره شکمن او مشکوک وي او ترې ډډه وکړي او دا ايت: يا ايها الذين امنوا اجتنبو كثيرا من الظن: ای مومانو! له ډېرو گومانونو نه ډډه

Made with Xodo PDF Reader and Editor

وکړئ.د هغه چا په باب دی، چې مومنوالی يې ثاب وي او له هر اړخه پېژندلی اوسي.

(۵) د اهل سنتو د وينا له مخې، د شيعه و ټول دولس گوني امامان د پېغمبر لخوا غوره شوي وو. شيخ سليمان قندوزي حنفي د خپل کتاب ينابيع المودة په ٤٤٠ مخ کې د شيخ الاسلام حمويني شافعي د فرائد السمطين په حواله له حضرت ابن عباس نه نقل کړي، چې يوه ورځ يو يهودي عالم (نعثل) د پېغمبر حضور ته راغی و يې ويل: محمده ! زه درنه يو څو پوښتنې کوم؛ که ځواب دې راکړ؛ ايمان درباندې راوړم او مسلمانېږم.

رسول الله وفرمايل: وايه ابا عماره!

و يې يل: محمده ! خدای دې راته تعريف کړه.

پېغمبر (ص) وويل: خدای له هغه پرته، چې په خپله يې ځان توصيف کړی، پېژندل کېدای نشي. بيا يې د خدای د معرفت او توحيد په باب توضيح ورته وکړه.

ويې يل: رښتيا دې وويل: پوښتنه يې وکړه: د خپل وصي (خليفه) په باب راته څه ووايه: داسې پېغمبر نه دی تېر شوی، چې وصي يې نه وي لرلای. زموږ پېغمبر موسی يوشع بن نون خپل وصي کړی و.

پېغمبر(ص) وفرمايل: زما وصي علی بن ابيطالب او زما دواړه لمسي حسن او حسين او په حسين پسې يې زوی علي بيا زوی يې محمد زوی يې جعفر زوی يې موسی په موسی پسې زوی

Made with Xodo PDF Reader and Editor

علي زوی يې محمد زوی يې علي زوی يې حسن زوی يې حجت محمد مهدي دی او دا دولس کسه دي.
يهودي وويل: دا راته ووایه، چې علي، حسن او حسين به څنگه مري؟
رسول الله وفرمایل: علي به پر ککره له گوزاره مري، حسن ته به زهر ورکول کېږي او حسين به حلالوي.
و يې ويل: ځای به يې چېرته وي؟
ويې ويل: په جنت کې له ما سره.
يهودي وويل: اشهد ان لا اله الا الله و اشهد انک رسول الله و اشهد انهم الا وصيا بعدک. ما دا هر څه په پخوانيو کتابو کې لوستي، هغه کتابونه يې رسول الله ته ياد کړل.
(٦) د اسلامي وحدت مسئاله د نړۍ د مسلمانانو ستره هيله ده او بېشکه چې د مسلمانانو د مشرۍ او حاکميت سبب به شي؛ خو د بده مرغه کله له دغې مسئالې نه ناوړه استفاده کېږي. ځينې دا گڼي، چې اسلامي وحدت گڼې د اعتقادي پولو له منځه وړو ته وايي او دا غلط گومان دی؛ځکه څه چې د وحدت له پلوه ورته مسلمانان اړ دي، هغه د مسلمانانو ټولنيز او نړيوال وحدت دی؛خو د ټولنيز وحدت په صورت کې اعتقادي پولې بايد پوره پر ځای وي.
(٧) دغه حديث د اهل سنتو په ټولو لويو کتابونو کې؛ لکه صحيح مسلم ٧ج، باب فضايل الصحابه، فصل علي، د مصر د محمد علي صبيح چاپ ١٢٣ مخ. صحيح ترمذي ٢ج،

Made with Xodo PDF Reader and Editor

۳۰۸مخ. الصواعق المحرقه، دابن حجر ۱۳٦ مخ، د مسند احمد ٤ج، ۳۷۱ او ۳۷٦ مخونو کې راغلي دي.

(۸) مسند احمد حنبل ۱ج، ۵۲مخ او ۳ج ۳۲۵ مخ.

(۹) فتح الباري، فی شرح صحیح بخاري ۱ج، ۳۰ مخ.

(۱۰) قرآن صریحا فرمایي: کتب علیکم الصیام کما کتب علی الذین من قبلکم.

(۱۱) محمد د مستر همفري مستعار نوم دی.

(۱۲) دا جمله د اسلامي حکیمانو حکیمانه وینا ښکاري، په حدیث کې راغلې جمله داده، چې: العلم علمان علم الادیان و علم الابدان (علمونه دوه دي، په دیني چارو پورې اړوند علم او په بدنونو پورې اړوند)

(۱۳) محمد بن سعود سعودیانو دکورنۍ نیکه و، چې په ۱۱٤۷ هجري قمري کال وهابي مذهبه شو او انګلیسانو د نجد حکومت پر ګدۍ کېناوه او پر ۱۱۷۹ هجري قمري کال ومړ.

د قرآن مجید په څلورو آیتونو کې په ډاګه دحضرت محمد(ص) پېغمبرۍ ته اشاره شوې ده:

۱ ـ آل عمران ۱٤٤: **وَمَا مُحَمَّدٌ إِلاَّ رَسُولٌ قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِهِ الرُّسُلُ**

۲ ـ احزاب ٤۰: **مَّا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَا أَحَدٍ مِّن رِّجَالِكُمْ وَلَكِن رَّسُولَ اللَّهِ وَخَاتَمَ النَّبِيِّينَ وَكَانَ اللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمًا**

۳ ـ محمد: ۲ آیت: **وَآمَنُوا بِمَا نُزِّلَ عَلَى مُحَمَّدٍ وَهُوَ الْحَقُّ مِن رَّبِّهِمْ**

Made with Xodo PDF Reader and Editor

٤ ـ فتح ۲۹: **مُّحَمَّدٌ رَّسُولُ اللَّهِ وَالَّذِينَ مَعَهُ أَشِدَّاء عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاء بَيْنَهُمْ**

دلته چې لیکونکي د غزالي غونډې متکلمانو او یا د مولانا جلال الدین بلخي غونډې عارفانو د کتابونو په باب کوم قضاوت کړی؛ نو یا نه پوهېږي او یا دا چې نیت یې بد دی، دا ډول کتابونه یو لړ عملي اخلاق دي، چې انسان تزکیې او پاکوالي ته رابولي او دا نه ښايي، چې موږ تزکیې او د نفس تهذیب ته گوښه کېناستل، رهبانیت او له ټولنې ځان لرې ساتل ووایو.